# د غازي محمد عثمان خان ساپي ژوند ته یوه کتنه





Ketabton.com

پوهنیار فهیم بهیر

۱۳۹۶ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب ځانګړنې


د کتاب نوم: د غازي محمد عثمان خان ساپي ژوند ته یوه کتنه

لیکوال: پوهنیار فهیم بهیر

اړیکه: ۰۷۹۲۳۱۳۸۰۰

کمپوزر: خپله لیکوال

د چاپ زیار: احمد هنایش

ډیزاینر: محمد نعیم دارابی

خپرندویه ټولنه:

کال: ۱۳۹۶ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library








د غازي محمد عثمان خان ساپي ژوند ته یوه کتنه
لیکوال: پوهنیار فهیم بهیر

## ډالۍ

❋ د هېواد ټولو هغه شاځلمو ته، چې د اسلام مبارک دین د دفاع په خاطر او د خپلې خاورې د ازادی له پاره یې ځانونه قربان کړل.

❋ خپل ارواښاد نیکه شهید الحاج استاد ناصر خان ساپي ته او خپل تره شهید عبدالوهاب بېنوا ته چې د هغوی د هڅو له امله مو نن ټوله کورنی د علم د لارې کلکه ملتیا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د لومړنیو کرښو دویم انځور | ۸ |
| ۲ | د دې کتاب په اړه | ۹ |
| ۳ | د تاریخ طلایي کرښې | ۱۰ |
| ۴ | خپلې خبرې | ۱۲ |

(۱)

| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د غازي محمد عثمان خان ساپي ټاټوبی | ۱۴ |
| ۲ | محمود راقي | ۱۷ |
| ۳ | تګاب | ۱۸ |
| ۴ | نجراب | ۲۰ |
| ۵ | اول کوهستان | ۲۱ |
| ۶ | دویم کوهستان | ۲۲ |
| ۷ | کوهبند | ۲۳ |
| ۸ | اله سای | ۲۴ |




د غازي محمد عثمان خان ساپي ژوند ته یوه کتنه
لیکوال: پوهنیار فهیم بهیر

# لړلیک


| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|

(۲)

| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | معاذ الله خان ساپی | ۲۷ |
| ۲ | شاداد خان ساپی | ۳۰ |
| ۳ | د محمد عثمان خان ساپي ژوند لیک | ۳۲ |
| ۴ | کابل ته د روسیي پلاوي راتګ | ۳۵ |
| ۵ | افغانستان ته د انګریزي پوځونو ننوتل | ۳۸ |
| ۶ | د کندومک تړون | ۴۰ |
| ۷ | کابل ته د کیوناري راتګ | ۴۳ |
| ۸ | د محمد عثمان خان ساپي خوب لیدل | ۴۵ |
| ۹ | په تګاب کې د محمد عثمان خان غونډه | ۴۷ |
| ۱۰ | د محمدعثمان خان په مشری د ملي | ۴۸ |
| ۱۱ | د بالاحصار جګړه او غازي محمد عثمان خان | ۴۹ |
| ۱۲ | رابرټس د کابل په لور | ۵۲ |
| ۱۳ | ولسي پاڅون | ۵۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱۴ | له غازي محمد عثمان خان ساپي شخه د | ۵۵ |
| ۱۵ | غازي محمد عثمان خان د شېرپور په جګړه کې | ۵۷ |
| ۱۶ـ | په آسمايي غره کې د غازي محمد عثمان | ۶۱ |
| ۱۷ | د غازي محمد عثمان خان مزار | ۶۷ |
| ۱۸ | د غازي محمد خان په نوم نوموني | ۶۸ |
| ۱۹ | غازي محمد عثمان خان د شعر په هنداره کې | ۶۹ |

(۳)

| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د غازي محمد عثمان خان د کورنۍ شجره | ۷۲ |
| ۲ | غازي پیرمحمد خان ساپی | ۷۳ |
| ۳ | غازي امیر محمد خان ساپی | ۷۵ |
| ۴ | غازي محمد شاه خان ساپی | ۷۶ |
| ۵ | محمد صدیق خان ساپی | ۷۷ |
| ۶ | عبدالغفور خان ساپی | ۷۹ |
| ۷ | د فرقه مشر محمد حسن ساپي جګړه له لقیانو سره | ۸۰ |






# لړلیک


| شمېره | سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۸ | د فرقه مشر محمد حسن خان او انور خان | ۸۴ |
| ۹ | د محمد حسن خان ساپی زامن | ۸۷ |
| ۱۰ | ماخذونه | ۹۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لومړنیو کرښو دویم انځور

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د دویم کال(۱۳۸۶هـ ش) محصل وم، چې د یوې کورنۍ دندې په هدف مې ځینې تاریخي اثار ولوستل په دې اثارو کې زموږ سیمه وال «غازي محمد عثمان خان ساپی »د انګریزانو په دویمه جګړه کې د ستر مبارز په توګه یاد شوی دی، خو د نوموړي د ژوند او مبارزو په اړه یو ځانګړی کتاب نه و چاپ شوی،چې د نوموړي د ژوند او د ټولو مبارزو یادونه په کې شوې وي.

نو په دې اړه مې کلک هوډ وکړ، د نوموړي د ژوند او مبارزې په اړه مې په لیکنه پیل وکړ، خو زه هغه مهال محصل وم، د تاریخي سرچینو، مرکو او د بیلابیلو ماخذونو څخه په استفادې مې کتاب په بېړه چاپ کړ. اوسمهال مې خپلې لومړنۍ کرښې دوباره وکتلې، د نثر نیمګړ تیاوې مې ورته سمې کړې، پخوانیو تاریخي اثارو سره مې د نوموړي د مبارزو معلومات بیا و ارزول او د ډېر دقت له امله مې په پخوانیو اثارو کې هم نیمګړتیاوې پیدا کړې. اوسمهال مې د دې کتاب ماخذونه په علمي معیارونو برابر کړل او ټول معلومات له یوې ارزونې تېر شول.

زما د لومړنیو کرښو ستر ارزښت دا و، چې د نوموړي تاریخ یې را ژوندی کړ او که د نوموړي په اړه له دې زیاته قوي څېړنه وشي، نو اړتیاده چې د دویمې جګړې په اړه د انګلیسي ژبې متون وکتل شي.

په دې چاپ کې مو د پخوانیو کرښو ځینې سرلیکونه لنډ او ځینې معلومات مو اضافه کړل، تر څو لیکنه خپل منطقي تسلسل وساتي.

په دې اړه د ننګرهار پوهنتون د خپلو هغه استادانو منندوی یم، چې د دې کتاب په لیکلو کې یې زما سره مرسته کړې او د هغوی تشویق و چې دا کرښې چاپ شوې. په پای کې د ګران سیموال او د غازي محمد عثمان خان د کورنۍ غړي انجنیر یوسف





حیدر نه هم مننه چې په لومړي ځل دا کتاب د نوموړي په مالي لګښت چاپ شوی دی.

**په اسلامیت او افغانیت مئین (پوهنیار فهیم بهیر)**

**البیروني پوهنتون، کاپیسا (۱۳۹۶ هـ ش)**

## د دې کتاب په اړه

زموږ د هېواد په تاریخ کې د نورو ملتونو په څېر، ډېرو ملي قهرمانانو خپلې وینې د هېواد د ازادۍ په لار کې توی کړې دي، په دې تمه چې هېواد د استعمار له منګلو څخه خلاص او هېواد وال یې د نورې نړۍ له قومونو سره سیال شي،چې د ځینو کارنامې، ویاړنې او مبارزې تر اوسه پورې پټې پاتې دي چې د هریو ملي قهرمان ژوند او مبارزه جلا څېړنې ته اړتیا لري.

ښاغلي فهیم بهیر چې د هېواد د نومیالي غازي او شهید محمد عثمان خان ساپي او د ده د کورنۍ د غړو او یو شمېر نورو غازیانو ورونو د اتلولي او مبارزې په اړه نوي معلومات راټول کړي، د فهیم بهیر دا هڅه د ستاینې وړ ده، چې په خپله لیکنه یې د هېواد تاریخ غني کړ او شهیدانو یاد یې تازه کړ. زه ده ته د دې لیکنې مبارکي وایم او د خدای(ج) له دربار څخه ورته د نورو لیکنو او څېړنو غوښتونکی یم، چې په راتلونکې کې د نورو غازیانو، شهیدانو په اړه هم ښه کره او هر اړخیزه معلومات ټول او چاپ یې کړي.

**په درنښت**

**پوهنمل مستعلي خان (نیازی)**

**د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي**

**د تاریخ د څانګې استاد**

**۱۳۸۶/۲/۱۱ ل ل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تاریخ طلایي کربښې

افغانستان د غازیانو کور دی او د دغه هېواد د ویاړلیو ولسونو د خپل ژوندانه په ټولو پړاوونو کې د پردیو د یرغل پر وړاندې تلپاتې مبارزې کړې، دا مبارزې د ټوپک پر وخت د ټوپک په ژبه شوي او د توري پر وخت د تورې په ژبه. د دغې سیمې طبیعي اب و هوا خدای تعالی همداسې زېږولې، چې هر مېړه یې د نورو د یرغل پر وړاندې نه ستړې کېدونکي مبارزې کړي او دا مبارزې زموږ د تاریخ ویاړلي بابونه دي.

زموږ د ژوندانه هره برخه او باب، زموږ هر غر او کمر، زموږ هره دښته او هواره، زموږ هر رود او خوړ زموږ د نېکونو او پلرونو د ننګ وپت وعزت او مېړانې شاهدي لري. دا ګڼو بهرنیو تاریخ پوهانو او سیاحانو هم منلې او دنیا هم چې افغانان د نړۍ تاریخ جوړونکی قوم دی او دغه قام تل د خپلې خپلواکۍ له پاره په مبارزه کې د هیڅ شي پروا نه ده ساتلې خو زموږ د تېرو ویاړونو د خوندیتوب له پاره موږ پروخت او پر ځای مبارزه او هڅه نه ده کړې که مو کړې ده، نو نیمګړې او کمه ده.

زموږ ځوانان باید راپاڅېږي قلم په ګوتو کې ونیسي او د دغه کتاب د لیکوال ښاغلي فهیم په څېر د خپلو نیکونو او پلرونو تېرې کارنامې خوندي کړي. زموږ له پاره له تاریخ پرته هسې هم نور څه نه دي پاتې، نو که دا برخه مو هم نیمګړې او خواره وي بیا به نو هیڅ هم نه یو!!

د دغه کتاب لیکوال د قدردانۍ وړ دی چې د خپلې زده کړې په بهیر کې لا له ادبیاتو پوهنځي فارغ شوی هم نه دی په خپل زړه کې د خپل ویاړلي او ځوریدلي ولس د تاریخ د ساتلو او راټولو له پاره هیلې پالي. حاضر کتاب له خپلو ویاړونو سره د ده د مینې ژوندی ثبوت دی. رښتیا هم غازي محمد عثمان خان ساپی په نولسمه پېړۍ کې چې زموږ هېواد له هر پلوه د ښکیلاکي ځواکونو په منګلو کې پروت و د خپل





هېواد د ژغورنې او پالنې له پاره د هغه مبارزه د هېرېدلو نه ده.

غازي محمد عثمان خان یوازې په خپل ځان مبارز نه و خپلې کورنی او سیمې ته یې هم د مبارزې او هېواد پالنې یو ژوندی درس پرایښی او د افغانستان اسکېرلی، ځپلې او نتلی ولس به د ده د ژوندانه، جهاد او مبارزې ویاړونه که په هر حالت کې وي، په خپلو وینو او اوښکو وساتي.

موږ لا هم د وینو او اوښکو له توپاني څپڅپانده سمندر سره مل را روان یو او د یو ناتار اوښکې مو وچې کړې نه وي چې بل غم مو د کاله مېلمه وي، کنه د غازي محمد عثمان خان په څېر مبارزو غازیانو د ژوندانه کارنامې خو تر دې پخوا په کار وې چې موږ د کاغذ پر مخ لیکلې او ساتلې وای.

ښاغلي فهیم متې رانغښتي او د خپل هېواد د تاریخ یو باب یې یو ځل بیا را ژوندی کړی د تاریخ کتابونو ته ناست شوی او د خپل ټاټوبي د ستر شخصیت غازي محمد عثمان خان ساپی د ژوندانه بېلابېلې برخې یې په کې کره کړې، څېړنه یې کړې او د ابدیتوب او تلپاتیتوب په مخه یې درانه ګامونه اوچت کړي دي.

زموږ نور ځوانان باید د ده په پله پل کېږدي، د خپل هېواد د تاریخ د غازیانو زرین بابونه د ځانګړو کتابونو په لیکلو سره را وځلوي او یوازې خپل ولس ته د وړاندې کولو له پاره نه، بلکې د نړۍ نورو ولسونو او قومونو ته هم د خپل تېر تاریخ دغه بابونه ور وپېژني.

ما هیله درلوده چې د ښاغلي فهیم په قلم د غازي محمد عثمان خان په ژوندانه دغه کتاب له هره پلوه وګورم او بیا پرې د تاریخي واقعاتو په رڼا کې یوه اوږده سریزه ولیکم خو له یوه پلوه د وخت اوسنی تنګسیا او له بل پلوه د ده د ځوانی ځوښت او بېړۍ د خپل زړه خبرو ته پرې نه ښودم. د املا او انشا له پلوه مې د دغه کتاب یو څو مخونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل فکر ور سم کړل خو د نورو له پاره ورته د کمپيوټري تېروتنو د سمون هيله کوم. که د کتاب د ليکلو له پاره اخځليکونو لږ د څېړنو په علمي اصولو نور هم برابر کړي، د کتاب علمي خوا به پرې لا درنه شي. زه خواشينی يم چې د دغه کتاب د هر اړخيزې لوستنې له پاره مې وخت ځانګړی نشو کړای.

**په اسلام او پښتون ولی مين**

**محمد داود وفا**

**ننګرهار پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځی**

**۱۳۸۶/۲/۴**

## خپلې خبرې

د نړۍ ښکيلاک ګرو زموږ پر سپېڅلې خاورې د خپلو شومو هدفونو په موخه په ډېرې سپين سترګۍ څو وارې تېري کړي، چې افغان ولس د خپل استعمار تر جغ لاندې راولې او د غلامۍ کړۍ يې پښو ته واچوي، مګر غيرتي او زړورو افغانانو په تش لاس او سپېڅلې عقيده د غلامۍ زولنې ماتې او دغه برند سترګو استعمار ګرو ته يې داسې غاښ ماتونکی ځواب ور کړ چې د تاريخ په زړه کې په زرينو کرښو، نورو ته د عبرت او پند درس شو.

يو له دې تېريو څخه د انګريزانو دويم تېری دی چې پر افغاني خاوره يې کړی، خو سربښندونکو مجاهدو غازيانو د سر په بدله د دې تيري پر وړاندې سينې سپر کړې او لکه غرونه يې مخ ته ودرېدل.

د مجاهدو غازيانو له ډلې يو هم غازي محمد عثمان خان ساپی او د ده کورنۍ وه، چې





د خپلې خاورې او د اسلام مبارک دين څخه د دفاع په خاطرېې په کلکه مبارزه وکړه چې د ده او د ده کورنۍ په اړه زه دلته څه نه وايم، چې بشپړ تفصيل به يې د دې وړوکي کتابګوټي په راتلونکو پاڼو کې ولولی.

په پای کې د خپلو درنو استادانو، استاد فضل ولي ناګار څخه ډېره مننه چې زه يې د دې کتابګوټي ليکلو ته وهڅولم، له استاد مست علي خان نيازي څخه هم ډېره مننه، که نه وای نو دا رساله به ستاسو تر ګوتو نه وای رسيدلې او د درانه استاد محمد داود وفا څخه مننه چې په خپله سريزه يې کتاب ته نوره ښکلا هم ور وبښله، د انجينر نور احمد حيدر تګابي څخه په مننې چې د موادو په راټولولو کې يې را سره په خلاص مټ زيار وګاله او همدارنګه د پوهنتوني زده کړو ګران ملګري خيبر جبارزي څخه مننه چې په ورين تندي يې را سره د کتاب په املايي برخه کې مرسته وکړه. د دغه ټولو ښاغلو څخه يو ځل بيا مننه کور يې ودان، هڅې او مرستې يې د نيکۍ په تله کې حساب شي او د څښتن تعالی د دربار څخه ورته اوږد عمر غوښتونکی يم.

**په درنښت**

**فهيم بهير**

**(د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل)**

**۱۳۸۶/۲/۱۷ ليليه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غازي محمد عثمان خان ټاټوبی(کاپيسا)

کاپيسا د افغانستان له مرکزي ولايتونو څخه دی، چې د پنجشير، پروان، کابل او لغمان تر منځ موقيعت لري. کاپيسا د هېواد په تاريخ کې ځانګړي بابونه لري خو تر هر څه وړاندې د کاپيسا له نوم څخه يې پيلو:

د کاپيسا نوم د چين تاريخ ليکونکو د (کي پن) يا د (کي پيش)، د يونان او روم جغرافيه ليکونکو د کاپيسا په نوم ياد کړی دی. په پخوانيو متونو زند او اوستا کې د (کاپسين، کياپسې او کافو) په نومونو هم ياده شوې ده، خو بطليموس د کاپيسا په نوم ياده کړې ده.

اولين سړی چې کاپيسا نوم يې د خلکو تر غوږونو ورسوه هغه د سانسکريټ د ژبې د صرف او نحوي عالم پاڼيني و. په پخوانيو ليکوالو کې ابو ريحان البيروني وروستنی شخص و، چې د کاپيسا د نوم يادونه يې کړې ده.

کاپيسا د هېواد يوه تاريخي سيمه ده، چې د کوشانيانو د ستړواکی ځانګړی مَرکز و. د تاريخ په اوږدو کې نوموړې سيمې د خپل ستراتيژيک موقيعت په اساس د باختر، هند، اراکوزيا او دروم د بحېرې تر منځ ځانګړی رول درلوده، چې د يادو سيمو څخه به تجارتي کاروانونو پر همدې سيمې باندې تګ او راتګ کاوه.

کاپيسا يو اوسنی شکل لري او بل پخوانی. په لرغونې کاپيسا کې د کابل او پروان سيمې لکه ، کوهدامن، بګرام، چاريکار، جبل السراج او د اوسنی کاپيسا سيمې لکه کوهستان، نجراب او تګاب هم د کاپيسا په نوم ياديده او بګرام يې مرکز و، چې د تاريخ مهو پاچاهانو په کې هستوګنه کړې ده. ياده سيمه د يوناني او باختري پاچاهانو





په واکمنيو کې هم ځانګړې ارزښت درلوده، چې د هغه مهال يو شمېر تاريخي اثار اوسمهال هم د کاپيسا په بيلابيلو برخو کې موجود دی.

کاپيسا د کانيشکا د واکمنی پر مهال ځانګړی او زرين تاريخ لري، چې ياده سيمه ۶۲۰ کاله د اريانا د پلازمينې په توګه پاتې شوې ده. د ده پر مهال کاپيسا د سياسي نفوذ نه برخمنه وه، ښه فرهنګي او تجارتي اړيکې يې د هغه مهال له مهمو ستړواکيو، لکه: د چين او روم سره درلودې . په دغه دوره کې د کاپيسا په بيلابيلو برخو کې عبادتځايونه او ښارونه هم جوړ شوي ،چې اوسمهال د ځينو کيندونو په اساس يې لرغوني آثار را ويستل کېږي.

کانيشکا(۱۶۰-۱۲۰م) هغه واکمن دی ،چې يو ځانګړی حکومت يې په اريانا کې رامنځته کړ او د خپل سياسي نفوذ د کنټرول په موخه يې د اوړي مرکز د کاپيسا بګرام وټاکه. چيني زاير ،چې په اوومه عيسوي پېړی کې کاپيسا ته راغلی و، له دې سيمې څخه يې ليدنه کړې او په هغه وخت کې پاچا د کشتاريه، يعنې د نجيباو له ډلې څخه و ،چې اوه« ۷» امارتونه يې تر اداري لاندې و او هغه سيمې ،چې د کاپيسا په سياسي نفوذ کې شاملې وي هغه چينې زاير هيوانتسنګ په لاندې توګه معرفي کړي دي:

۱ – لاپو(لغمان) شاهي کورنی يې له منځه تللې وه او د کاپيسا له خوا نه اداره کېده.

۲ – نګاراهار( ننګرهار) دلته هم کومه ځانګړې حکمراني نه وه ،بلکې حکمرانان يې له کاپيسا څخه ټاکل کېدل.

۳ – تاشاسيلو(تاکسيلا) دا سيمه هم ډېر وخت د کاپيسا نه اداره کېده، خو وروسته په کشمير پورې وتړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې لنډه یادونه وشوه ،چې د کاپیسا د عروج وخت په فرهنګي، سیاسي او تجارتي لحاظ د کانیشکا له واکمنۍ سره اړه لري او د ده پر مهال د سیمو د ستړواکیو سره ځانګړي روابط درلودل، د ده پر وخت د مذهب ازادي هم زیاته وه، ،چې د کاپیسا په مرکز (بګرام) او په نورو سیمو کې ډیر عبادتځآیونه او راهیبان موجود و ،چې د بودایي دین یو مشهور عالم د (ګوناوارمن، Gunavar man ) ،چې د کاپیسا یو شهزاده و، ځانګړی نوم لري ،چې ده د بودایي دین د خپرېدو په موخه د جنوب ختیځ اسیا او چین ته سفرونه وکړل او هلته یې ګڼ شمېر شاګردان وروزل.

له کوشانیانو څخه وروسته واک کیداریانو ته ورسیده او د دوی پر مهال هم کاپیسا د پلازمینې په توګه مطرح وه. په نهمې میلادي پېړۍ کې د کاپیسا پر ځای کابل د پلازمینې په توګه وټاکل شو او وروسته لدې په اسلامي تاریخونو او آثارو کې د کاپیسا پر ځای د کابل نوم د تاریخ پاڼو ته ولویده یعني د (۲۲۰ م) نه ۱۹۶۰م پورې کومه پاملرنه ورته ونه شوه، بلکې په ۱۹۶۰ م (۱۳۴۲ ش ل) د هغه مهال لومړي وزیر فیصله وکړه ،چې د افغانستان ادار ي واحدونه لوړ شي همغه و،چې کاپیسا بیا د یو ولایت په توګه رامنځته شوه، چې اوسمهال شپږ ولسوالۍ لري.

کاپیسا د بحر له سطحې نه ۱۵۰۰ متره لوړوالی لري او ۱۸۷۱ کیلو متره مربع مساحت لري. د کاپیسا شمال کې د هندوکش لوړ غرونه، د پنجشیر واورینې څوکې، د نیلاب سیند او د شمالي ډنډ ورته ځانګړې ښکلا ورکړې له همدې امله د پخوانیو واکمنانو هستوګنځی و.

د کاپیسا اقلیم په ژمي کې یخ او په اوړي کې ګرم دی ، مګر په پسرلي او مني کې





معتدله هوا لري. د کابل په نسبت د بحر له سطحې څخه لړه ارتفاع لري، نو ځکه هر ډول کر کیله پکې کېږي.د نوموړي ولایت د اوربښت اندازه ۳۰۰ – ۴۰۰ ملي متره ده او په اوړي کې یې تودخه د ۲۵ او ۴۵ درجو ترمنځ وي.


د کاپیسا په لویدیځ کې د پنجشیر سیند تېرېږي، چې اول کوهستان، دویم کوهستان او د کاپیسا مرکز ته ترې د اوبو لوی نهرونه غزیدلي او د یادو سیمو کرنیزې ځمکې خړوبوي.

**محمود راقي:** محمود راقي د کاپیسا مرکز دی، چې ۱۲۱ کیلو متره مربع مساحت لري، چې جنوب ته یې نجراب ، ختیځ ته یې کوهبند، شمال ته یې دویم کوهستان او لویدیځ ته یې د پنجشیر سیند پروت دی. د اټکل له مخې شمالي عرض البلد په ۳۴ درجو او ۳ دقیقو او ختیځ طول البلد ۲۸ درجو او ۲۴ دقیقو کې واقع دی او د ۶۰ په شاو خوا کې کلي لري.

د کاپیسا مرکز کرنیزه ځمکه لري، چې یادې ځمکې د پنجشیر له سیند څخه خړوبېږي . د کاپیسا د نورو سیمو په پرتله د انګورو باغونه ډېر لري او د اوړي په موسم کې ګڼ شمېر سیلانیان د کاپیسا له مرکز څخه لیدنه کوي. محمود راقي دوه مهمې سیمې لري، چې د سیاحتي او اقتصادي ارزښتونو څخه برخمنې دي، یوه د محمود راقي په ختیځه برخه کې د ریګروان په نوم پرته ده او بله د محمود راقي په لودیځه برخه کې د صیادو په نوم. دې دواړو سیمو ته د کال په هر موسم کې ګڼ شمېر سیلانیان د هیواد له نورو برخو څخه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کتاب ليکوال له پياوړي تاريخپوه او څېړونکي استاد حبيب الله رفيع سره په رېګروان سيمه کې.

د ريګروان په سيمه کې د ابو حنيفه صيب په نوم  يو زيارت هم شته او په لسګونه نورې افسانوي کيسې هم لري. د دې سيمې له ريګ څخه په تعميراتي موادو کې کار اخيستل کېږي اوسمهال پرې حکومت بنديز لګولی چې څوک يې وړلی نه شي.

**تګاب:** تګاب د کاپيسا جنوبي ولسوالۍ ده ،چې ۴۸۵ کيلو متره مربع مساحت لري او د سمندر له سطحې څخه ۱۳۰۰ متره لوړوالی لري. د تګاب ولسوالۍ ختيځ ته لغمان او اله ساى ولسوالۍ،شمال ته يې نجراب ولسوالۍ، جنوب ته يې د کابل سروبي ولسوالۍ او لويديځ ته يې د پنجشير سيند پروت دی.


د وربښمو تنګي تاريخي لار پر همدې ولسوالۍ باندې غزېدلې ده چې د هېواد ختيځې سيمې د هېواد له شمال سره نښلوي. په دې ولسوالۍ کې هم ګڼ شمېر





تاريخي آثار شته او ډېر وخت د غيرې فني کندنو په ترځ کې بر سېره شوي او زيات وخت له ګاونډېو هېوادونو څخه ځينې کسان راغلي دلته يې څېړنې کړي او ځنې مواد يې ويستلي دي. په دغه ولسوالۍ  د کوشانيانو د وخت سيکې، لوښي او د غرونو په لمنو کې پخواني کورونه را برسېره کېږي ،چې د جوړېدو وخت يې د کوشانيانو واکمنۍ  ته رسيږي.

تګاب د کاپيسا د نورو ولسواليو په پرتله پراخې شنې سيمې لري، د کال په څو مياشتو کې د نجراب او د اله ساى د رودونو څخه يې کرنيزې ځمکې خړوبېږي. د تګاب ولسوالۍ هر ډول تازه او وچې مېوې لري چې خواږه انار يې د نړۍ په کچه ځانګړې شهرت لري اوسمهال يې الوبخارا هم په لوړه بيه نورو هېوادونو ته صادرېږي.



د تګاب د بره درې انځور

د هېواد نوميالی غازي محمد عثمان خان هم د يادې ولسوالۍ د احمد زيو په سيمه کې پيدا شوی دی، د نوموړي  د کورنۍ غړي اوسمهال هم د خانانو په نوم يادېږي چې

د تګاب د بیلابیلو سیمو سر بېره د هېواد نورو برخو ته هم کو چیدلي دي. د تګاب ولسوالۍ اوسمهال ستر لوی بازار لري، چې د کاپیسا د نجراب، اله سای، د کاپیسا د مرکز، د سروبي ولسوالۍ د لغمان او ننګرهار يو شمېر سوداګر هم ورته په هره اونۍ کې تګ او راتګ کوي.

**نجراب:** نجراب هم د کاپيسا په جنوب ختيځ کې پرته ولسوالۍ ده ،چې د هندوکش په لړيو کې را ګېره ده ،چې ۵۸۵ کيلو متره مربع مساحت لري او د سمندر له سطحې نه ۱۶۷۵ متره لوړوالی لري.

نجراب پنځه لويې درې لري، د وريښمو تنکي د لارې به د ميلاد نه مخکې او وروسته تجارتي کاروانونه کاپيسا ته د جنوب يا د شمال له لارې داخلېدل. دوی ډېر وخت په همدې سيمو لکه تګاب، نجراب کې پاتې شوی دي دلته د پخوانيو واکمنيو پر مهال ودانۍ جوړې شوي دي او لرغوني آثار يې پريښي دي او فرهنګي کړی په همدې سيمو کې ګرمې وي ځکه اوسمهال هم په دې سيمو کې لرغونې ودانۍ را بر سېر کېږي ،چې د ودانيو جوړښت د بګرام يا د کاپيسا د نورو ښارونو سره ورته والی لري او يونانيانو او کوشانيانو د زمانې لوښي، سيکې او نور مسي شيان پکې پيدا کېږي.

نجراب د هېواد په کچه د طبيعي ښکلا له امله ځانګړی ځای لري، په اوړي کې ياده ولسوالۍ هم ګڼ شمير سيلانيان لري، په غرنيو لړيو ښکيلې درې، د غرونو په ډډو کې شنې ونې، په سينه يې هر ډول ميوې او يخو چينو يې طبيعي ښکلا څو برابره نوره هم ښايسته کړې ده. ياده ولسوالۍ د تګاب او اله سای په پرتله لوړه ده، د سيند ګوټو اوبه يې د پنجشير له سيند سره يو ځای کېږي. نوموړې ولسوالۍ کرنيزې ځمکې هم لري، چهار مغز او جنغوزې يې له هېواده بهر صادرېږي. په علمي لحاظ هم ځانګړې





کدرونه لري، چې د هېواد په کچه لومړنۍ ولسوالۍ ده، چې ډېرې طبي ډاکټران لري.



د نجراب طبيعي ښکلا

**اول کوهستان:** دا ولسوالۍ د کاپيسا په شمال کې پرته ده، چې جنوب ته يې دويم کوهستان، لوديځ ته يې د پنجشير سيند، شمال ته يې پنجشير او ختيځ ته يې کوهبند ولسوالۍ واقع ده.

ياده ولسوالۍ ۱۷۱ کيلو متره مربع مساحت لري او ډېرې سيمې له لرغونو اثارو ډکې دي چې د خم زرګر په نوم سيمه يې په لرغونپوهنه کې د ځانګړې مطالعې وړ ده. په دې ولسوالۍ که د «نساجي ګلبهار» په نوم د رخت جوړونې فابريکه وه، چې د اسيا په کچه يې شهرت درلوده او په ۲۴ ساعتونو کې به درې ډلو کسانو په کې کار کاوه. په علمي او اقتصادي لحاظ هم ياده ولسوالۍ په اوله ګټه ګوری کې ده.

علمي او فرهنګي شخصيتونه هم لري . په ۱۳۷۶ کې د البيروني پوهنتون په دې ولسوالۍ کې جوړ شو چې اوسمهال اته پوهنځي لري او تر څنګ يې نورې علمي موسسې او انستيتونه هم جوړ شوي دي. د البيروني پوهنتون لومړنۍ پوهاند ډاکټر




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد نعیم شریف دی چې د دویم کوهستان اوسیدونکی.



د اول کوهستان یوه زرغونه منظره

اول کوهستان کرنیزې ځمکې هم لري، چې د پنجشیر له سیند څخه خړوبېږي، نوموړې ولسوالۍ هر ډول میوې او کرنیز حاصلات لري چې د اوړي په موسم کې درې مهم ځایونه یې د ارزښت وړ دي: د خم زرګر سیمه، د شرکت د ګلبهار ځنډه او د ګل غونډۍ برخه ،چې د کاپیسا د طبیعي ښکلا د تاج برخې ګڼل کېږي.

**دویم کوهستان:** د دې ولسوالۍ شمال ته اول کوهستان، ختیځ ته یې کوهبند ولسوالۍ، لودیځ ته یې د پنجشیر سیند او جنوب ته یې محمود راقي پروت دی. دا ولسوالۍ د کاپیسا د مرکزي برخو څخه ګڼل کېږي، چې کرنیزې ځمکې ډېرې لري





او د پنجشیر له سیند څخه خړوبېږي.

پخوا دواړه کوهستانونه یوه ولسوالي وه، خو ۱۳۷۷ هـ ش کې په دوه برخو( اول کوهستان او دویم کوهستان) باندې وویشل شوه. د دې ولسوالۍ مرکز د جمال اغې سیمه ده، چې د کاپیسا مرکز له اول کوهستان سره نښلوي. دا سیمه هم هر ډول تازه میوې لر ي، خو انګور یې له هېواده بهر صادرېږي. د دویم کوهستان ختیځه ځنډه غرنۍ ده، افسانوي کیسې هم لري خو لودیځه ځنډه یې د پنجشیر په سیند او شنوبوټو او ونو باندې ډېره سینګار شوې ده، نو په دې اساس ډېری سیلانیان هم له دې دواړو برخو څخه لیدنه کوي.

**کوهبند:** کوهبند ولسوالۍ غرنۍ سیمې لري، له نوم څخه یې معلومېږي چې په غرونو کې راګېر ده. کوهبند ولسوالۍ ۱۹۳ کیلو متره مربع مساحت لري، د بحر له سطحې



د کوهبند یوه غرنۍ چینه او د توتو مېله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه ۲۰۰۰ متره لوړوالی لري. نوموړې ولسوالۍ د ختیځ طول البلد په ۶۹ درجو او ۲۹ دقیقو او د شمالي عرض البلد په ۳۵ درجو او ۵۳ د قیقو کې واقع ده.

کوهبند ولسوالۍ د اول او دویم کوهستان، نجراب او د پنجشیر ولایت سره ګډې پولې لري. دا ولسوالۍ ځنې طبیعي ځانګړتیاوې لري، د ښه ژوند له پاره ښه اقلم«اب و هوا» لري، د غرنو په لمنو کې د اوبو چینې لري د همدې له امله یې اوسیدونکي د ښې روغتیا خاوندان دي.

کوهبند ولسوالۍ وچه او تازه مېوې لري لکه توت، چارمغز او بادام. خلک یې ډېر میلمه پال اوزیارکښ دي . نوموړې ولسوالۍ د کاپیسا د ټولو ولسوالیو په پرتله لوړه ارتفاع لري او ډېرې تاریخي ځایونه لري، چې هر غر او پرښه یې له افسانوي کیسو ځخه ډکه ده.

**اله سای:** دا ولسوالۍ د کاپیسا په جنوب ختیځ کې پرته ده، د تګاب، نجراب، لغمان سره ګډې پولې لري او تر ۱۳۶۸ هـ ش پورې د تګاب ولسوالۍ علاقداري وه. نوموړې ولسوالۍ ۳۴۲ کیلو متره مربع مساحت لري او د سمندر له سطحې نه ۱۶۲۵ متره لوړ والی لري.

د اله سای کلمه ترکیبي نوم دی، چې بېلابیلې معناګانې ورکوې. د « هله» ریښه په پښتو کې د «هغه وخت» معنا ورکوي او «سای» په پخوانۍ عامیانه پښتو کې د «د سیلاب د تېرېدلو لارې» ته وایي. همدا ډول هغه ځمکې ته هم وایي چې ځوړه وي.

اله سای د خپل جوړښت له مخې هم مخ په ځوړه درې لري چې د لږ باران له امله یې اوبه د تګاب له رود سره یو ځای کېږي.

د دې ولسوالۍ ډېری خلک بزګر او مالداران دي او د ځمکې کرنیز حاصلات یې یو






فصله دي. په دې ولسوالۍ کې کرنیزې ځمکې هم لږ دي، خو چارمغز او جنغوزي په کې ډېر دي.

که په لنډ توګه د کاپیسا د سیمو طبیعي جوړښت ته ځیر شو، نو ویلای شو، چې کاپیسا د هسکو او واورینو غرونو له امله په ژمي کې یخه هوا او په اوړي کې معتدله او ښه هوا لري ،چې د هیواد له ګوټ ګوټ نه ګڼ شمېرخلک یې د سیل له پاره راځي.

د کوهستان اوله او دویمه برخه او د محمود راقي سیمې په اوړي کې د شنو او ښکلو



د اله سای یوه غرنۍ دره

ونو له کبله سمسورې او تازه ښکاري ،چې په دې سیمو کې توت، زردالو، بادام او د انګور ونې لیدل کېږي. د دې سیمو په پرتله په نجراب او تګاب کې انار، جنغوزي، الو، چارمغز زیات پیدا کېږي او د نورو میوو ونې هم لري. د کاپیسا د کرنې پیداوار غنم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوار، اوربشې، لوبيا، مې، پنبه او کچالو دي او وچې او تازه ميوې لکه انګور، انار، بادام، جنغوزي او زردالو نورو ولايتونو او ځينو بهرنيو هېوادونو ته هم صادرېږي.

په دغه ولايت پخوا د نساجي فابريکه هم موجوده وه ،چې د اسيا په کچه يوازينۍ فابريکه وه ،چې شه ټوکران يې جوړول او زيات شمېر کارکونکو په کې دنده تر سره کوله ،چې هغه اوسمهال د کورنيو جنګونو له امله ويجاړه شوې ده او اوسني حکومت هم ورته هيڅ پاملرنه نه ده کړې.

کاپيسا د خپل جغرافيوي موقيعت ته په کتو او د لرغونو پاچاهانو د واکمنۍ په اړه ګڼې افسانوي کيسې هم لري ،چې زيات وخت له تاريخي واقعيتونو سره نژدې اړخ لګوي، بل خوا د هندوکش لوړ غرونو څخه په اوړي کې څو مياشتې ګرم شمال هم په دې سيمه کې لګېږي ،چې زيات وخت کرنيزو حاصلاتو ته زيانونه اړه وي.

په کاپيسا کې ۲۸۷۰۰۰ جريبه کرنيزه ځمکه شته ،چې له دې جملې څخه يې ۱۰۰۰ جريبه للمي ده، ،چې د اول کوهستان، دويم کوهستان او محمود راقي ځمکې په اوړي کې د پنجشير له سيند څخه خړوبېږي، مګر په نجراب، تګاب او اله ساى او کوهبند ولسواليو کې ځمکې د غرونو له لړيو څخه د واورو په ويلې کېدو سره اوبه کېږي ،چې په اوړي کې ذکر شوې سيمې د اوبو له کمښت سره مخ دي او د کرنيزو حاصلاتو پر کموالي او ډېروالي اغيزه لري.

کاپيسا د هېواد په تاريخ کې مهمه سيمه ګڼل شوې ده ، چې د يونانيانو او کوشانيانو د واکمنيو پر مهال يې ځانګړې شهرت درلوده. د کانيشکا د واکمنۍ پر مهال د اوړي پلازمينه وه ،چې د پخوانۍ اريانا ډېرې سيمې يې تر واک لاندې وې او دغه مهال د کاپيسا اړيکې د سيمو د نورو سترواکيو سره نژدې وې.د همدې واکمنيو پر مهال په





کاپيسا کې فرهنګي مزکزونه او بازارونه موجود و او د هغه وخت د ځينو هېوادونو مهم توکې همدلته پلورل کېدل، خو د اسلام مبارک دين په راتګ سره له کاپيسا څخه پلازمينه کابل ته يوړل شوه او کوم فرهنګي ميراثونه ،چې يې درلودل هغه ځينې له مينځه لاړل او وروسته له دې کابل خپل ځانګړی نوم په تاريخ کې پيدا کړ.

(د پورتنی ليکنې مهمې او تاريخي برخې زما په پخوانيو اثارو: د کاپيسا ولسي ادبيات او کاپيسا در سال ۱۳۹۰ کې چاپ شوي دي، څکه دلته مې ورته ماخذ نه دی ورکړی).

## معاذ الله ساپی

مخکې له دې چې د غازي محمد عثمان خان په اړه نبغ په نبغه خبرې وکړو لازمه بولم چې د ده په کورنۍ څه نا څه رڼا واچوم.

زموږ د هېواد ملي اتل غازي محمد عثمان خان ساپي، نيکه معاذ الله خان نومېږي، چې په معذو بابا هم شهرت لري. نوموړی اصلاً د کوه ساپي ولسوالۍ د کوه درې د کلي اوسيدونکي و او له هغه ځای څخه د خوج بلند يا د تګاب او کوه ساپی تر منځ چې کوم غر پروت دی د همدې لارې د تګاب په لور وکوچېده او د تګاب د نوروز خيلو په سيمه کې يې واړول، چې دا سيمه لومړی يوه وچه دښته وه او به يې نه درلودې، مګر د معذو بابا د کرامت او زيار په وجه په دې سيمه کې د اوبو يوه چينه را پيدا شو چې نوموړې سيمه يې زرغونه کړه.

معذو بابا ياده سيمه(دښته) اباده کړه او د کرنې وړ شوه او د نباتاتو په کرونده يې پيل وکړ. کومه چينه چې د نوموړې دکرامت په وجه پيدا شوې ده اوسمهال يې هم خلک د معذو بابا د چينې په نوم يادوي او هغه غرنۍ لار چې د کوه ساپي ولسوالۍ څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګاب په لور غزيدلې ده، د معذو بابا د لارې په نوم ياديږي.

معذو بابا د عزت وړ، تقوادار او فهم لرونکی شخص و چې د تل له پاره به يې د خپلو خلکو په روزنه کې ونډه اخيسته او دوی يې د غفلت له خوب څخه وينبول او د دين تبليغ به يې ورته کاوه، همدا ډول يې خلک د مالدارۍ، کرنې، تعليم او د وطن د ابادۍ په لور هڅولي دي.

معذو بابا د خپل وخت خان هم و، چې د هېواد په شمالي برخو(پروان – کاپيسا ) کې يې ډېرې ځمکې درلودې او په تګاب کې يې هم ډېره ځمکه اباده کړې وه. نوموړی د خپل استعداد او شخصيت له امله د تګاب د خلکو مشر و، چې د تګاب کوهستان او په مجموع کې د کاپيسا ماليات به يې ټولول او حکومت ته به يې سپارل[1].

د تاريخي سرچينو له مخې د معذو بابا او د همغه وخت د حکومتي کسانو ترمنځ د مالياتو د را ټولولو په سر نښتې هم رامنځته شوي دي. په دې اړه سيد قاسم رښتيا ليکلي دي: « امير دوست محمد خان د خپل حکومت د ټينګښت له پاره يو شمېر سيمو کې لښکر کشي وکړه او هلته يې خپل مخالفان وټکول ، چې له هغو سيمو څخه په کوهستان کې سيد بابا قشقاري، نورک شکردره يي، زمان خان استالفي او په تګاب کې د امير د مخالفينو مشر معاذ الله خان و، چې د تګاب جنګ د معاذ الله خان په مشرۍ ډېره ادامه پيدا کړه او امير دوست محمد خان زيات شمېر عسکر د نواب جبار خان په مشرۍ ولېږل، چې معاذ الله خان ورته ماته ورکړه. له همدې امله پخپله امير دوست محمد خان د تګاب په لور پاملرنه وکړه، معاذ الله خان ته يې يوه سخته ماته ورکړه او ژوندی يې ونيوه چې د حاجي خان په شفاعت ورته ښښنه وشوه باقي ماليات

(1) مدير صيب امين الله خان د غازي محمد عثمان خان د کورنۍ غړی او د تګاب د خانانو د کلي اوسيدونکی.





يې امير دوست محمد خان ته وسپارل »«۳: ۶۷».

د ملي اتل غازي محمد عثمان د کورنۍ د غړو په وينا معذو بابا ځکه د هغه وخت حکومت ته ماليات نه سپارل چې خلک د محمد زيانو له ظلم او ستم څخه ډېر په تنګ و او هر يو يې په يو ولايت کې يو پاچا و د مرکزي حکومت اثرات نه ليدل کېدل، معاذ الله خا ن د مرستې پر ځای له دوی سره مخالفت کاوه.

امير دوست محمد خان چې په لومړي امارت کې کابل ونيوه، د خپلو و رورونو جرګه يې جوړه کړه هېواد يې په خپل منځ کې وويشه يعنې يو مرکزي حکومت په څو برخو وويشل شو «۱: ۳۱۲».

په تګاب کې د امير دوست محمد خان پر وړاندې د معاذ الله خان د مخالفت په اړه د ميرغلام محمد غبار د اثر څو کرښې را اخلو: « په ۱۸۴۶ م کال کې د تګاب خلکو د معاذ الله خان په مشرۍ او همدارنګه صاحبزاده جانان او صاحب زاده فتح خان، د امير دوست محمد خان په ضد پاڅون وکړ، چې معاذ الله خان د امير دوست محمد خان د لښکر مشر نواب جبار خان ته ماته ورکړه، نو وزير محمد اکبر خان د تګاب جنګ ته لاړ ، صاحب زاده يې ووژه ماليات يې دوباره معلوم کړل او وزير محمد اکبر خان بېرته کابل ته وګرځېده» « ۹: ۵۷۶».

مخکې يادونه وشوه چې معذو بابا له پخوا څخه شتمني درلوده. نوموړی د تګاب په جنوبي برخه کې هستوګن شو او هلته يې ډېره ځمکه اباده کړې ده، چې وروسته د نوموړي له مرګ څخه د ده اولادونه هم د تګاب نورو برخو ته کوچيدلي دي او په تګاب کې يا د هېواد په کچه د نوموړي د کورنۍ غړي د خانانو په نوم ياديږي او د نوموړي له مرګ څخه وروسته، حکومت ته د مالياتو سپارلو دنده د ده اولادونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره کوله.

د معذو بابا  کورنی د هېواد په تاریخ، کې هم ځانګړي ځای لري چې غازي محمد عثمان خان او د نوموړي دوه ورونو د انګریزانو په جګړه کې او پاتې غړو یې د امان الله خان او نادر خان تر حکومت پورې د هیواد په مهمو مسایلو کې مهم رول لوبولی دی، چې د دې کتاب په وررستیو مخونو کې به ورته اشاره وکړو.

## شاداد خان ساپی

د غازي محمد عثمان خان  پلار شاداد خان نومېږي، چې نوموړی د خپل پلار په څېر ځیرک او  یو ملي شخص و. نوموړي مروجې  دیني زده کړې  هم کړې وې او د معذو بابا د کورنی فعاله ځوان  و، چې د خپلو هلو ځلو او کوښښونو او ښو اړیکو په اساس یې ځانګړی شهرت درلوده او د تګاب د خلکو مشري به یې کوله.

شاداد خان د خپل ولس سره خواخوږي درلوده او له هغوی سره یې اقتصادي او هر اړخیزې مرستې کولې، نو ځکه ورڅخه خپل قوم راضي و او د تګاب او نجراب د خلکو فیصلې به یې کولې . نوموړي ته  خپل د پلار له مرګ نه وروسته دنده سپارل شوې وه، چې د تګاب او نجراب د سیمو مالیات راټول کړي او مرکزي حکومت ته یې وسپاري. شاداد خان یو جرګه مار سړی و، په تګاب کې یې لس لویې کلا ګانې درلودې او د تګاب، نجراب سر بېره د سروبي د ځینو سیمو مشري هم  د نوموړي په غاړه وه.

د نوموړي د کورنی د غړو په  وینا د نوموړي شهرت او ښې اړیکې او د حکومت سره د مالیاتو په برخه کې مسولیت او پر نوموړي د ولس راټولیدل دا هغه عوامل و چې د تېزین د یو شمېر خانانو یا هغه مهال یو شمېر کسانو په زړونو کې حسد او کینه پیدا





کړه. دوی خپلې متې راونغاړلې، تر څو چې شاداد خان ووژني، اخر دغه خانان چې د تیزین د سیمې اوسیدونکي و پر ده بر لاسي شول چې د شاداد خان ساتونکی ابراهیم یې د نوموړي(شادادخان) د وژلو له پاره په ۴۰۰ افغانیو راضي کړ .

کله چې شاداد خان له مالیاتو سره کابل ته وخوځیده، تیزین ته تر رسېدلو مخکې د خپل ساتونکي( ابراهیم) له خوا ووژل شو او ابراهیم( قاتل)په همدغه شپه بېرته د تګاب په لور وخوځیده دا چې د شپې تیاره وه ابراهیم ناڅاپه په کنده کې وغورځېده او دواړه پښې یې ماتې شوې. کله چې د شاداد خان ورونه د نوموړي د مرګ له پېښې نه خبر شول، نو ابراهیم ته یې په همغه کنده کې دولس منه باروت خښ کړل او انفجار یې ورکړ، تر څو د هغه وجود هم ټوټې ټوټې شو او ورونو یې بیا د شاداد خان جنازه تګاب ته راوړه او په خپل پلرنی هدیره کې  خاورو ته وسپارل شو [۲].

د شاداد خان ساپی څخه داسې اولادونه پاتې شولو چې  د انګریزانو په دویمه جګړه او د امیر عبدالرحمن خان د واک پر مهال د نورستان په نېولو کې  یې  د هېواد په معاصر تاریخ کې ځانګړي بابونه جوړ کړي دي.

د غازي محمد عثمان د کورنی یو شمېر غړي د امیر دوست محمد خان او شاداد خان تر منځ د مخالفت یادونې  هم  کوي،  په تاریخې اثارو کې  د دوی د مخالفت ښکاره عوامل نه لیدل کېږي، خو د امیر مخالفینو هڅه کوله چې یو شمېر مشران د امیر دوست محمد خان پر وړاندې را وپاروي . د کابل د حربي ښوونځي پخوانی استاد ډګروال غلام حیدر خان  د هېواد د تاریخ لیکونکي غبار د اثر «افغانستان در مسیر تاریخ» په حواله وایي:« ملا غلام پوپلزی چې امیر دوست محمد خان بندي کړی و له

[۲] ډګروال غلام حیدر خان د کابل د حربي ښوونځي پخوانی استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي خانې څخه وتښتېده ، خو انګريزانو ملاغلام له کابل څخه د ښځې په چادرۍ کې په خره سپور تګاب ته ولېږه، تر څو شادا خان د امير دوست محمد په ضد تحريک کړي».

## د محمد عثمان خان ساپي ژوند ليک

د هېواد لوی مبارز غازي محمد عثمان خان ساپی پر کال ۱۸۳۹ م کې د کاپيسا ولايت د تګاب ولسوالی د ښکلې درې د احمدزيو د سيمې د خانانو په کلي کې زيږيدلی دی «۵: ۲».

نوموړی د شاداد خان زوی، د معاذ الله خان لمسی، د غازي پيرمحمد خان او غازي محمد شاه خان ورور دی. نوموړی يو ځوانمرده او روڼ انده زلمی و دنګه ونه او شنې ستر ګې يې درلودې، چې په ډېرو سيمو کې به د نوموړي د ښې ځوانۍ او د ښو اخلاقو ستاينه کېدله.

محمد عثمان خان په ۱۲۳۰ هـ ش کال «۱۸۵۱ م» کې د ۱۲ کلو په عمر و، چې د وګړو په منځ کې به کيناسته او د استعماري ځواکونو د ظلم او ستم خبرې به يې کولې کله چې په عمر ۲۲ کلن شو، نو په بېلابېلو سيمو ( پروان او د کاپيسا شاو خوا سيمې) کې به ګرځېده او د ولس خلکو ته بې د انګريزانو د د ۱۸۳۸ – ۱۸۳۹ – ۱۸۴۲ کلونو ظلم او ستم روښانه کوه، تر څو خلک د انګريزي ښکيلاک پر وړاندې را وپاروي«۴: ۲۱۷».

محمد عثمان خان د خپل نيکه په خېبر په شمالي او په تګاب کې د لوی ثروت خاوند و او په همدغو سيمو کې نوموړی د هغه مهال د حکومت او د سيميزو جرګو د يومهم





شخص په توګه د امنيت په راوستو کې د خلکو او حکومت تر منځ د منازعاتو په حل کېدو کې مهم رول لوبوه . د نوموړي د ځوانی مستې او خوږې شپې وې چې يو ځل بيا انګريزي ښکيلاکګرو زموږ پاکه خاوره تر تهديد لاندې راوسته او د دويم ځل له پاره يې يرغل پيل کړ، چې په دې موده کې عثمان خان خپله بېړۍ د ځوانمردی ساحل ته رسولې وه او د انګريز استعماري ځواکونو د يرغل وحشتناکه لړۍ د ګران هېواد افغانستان له جنوب او ختيځ لورې راخورې شوې، چې د امير شيرعلي خان واکمني يې هم له زوال سره مخامخ کړه.

د غازي محمد عثمان خان څخه اولادونه نه دي پاتې ،خو د هغه ورونو او د کورنيو پاتې غړو هم د افغانانو او انګريزانو په دويمه او دريېمه جګړه کې او د دې جګړو تر منځ چې کومې واکمنۍ رامنځته شوې دي دوی په کې فعاله ونډه درلودلې ده. کله د ځينو واکمنيو پر وړاندې په مخالفت کې واقع شوي دي او کله يې د دوی د ملاتړ په هدف هڅې کړې دي خو په ټوله کې د دوی د کورنۍ يو شمېر غړي د هېواد په معاصر تاريخ کې ځانګړي بابونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محمد عثمان خان د جګړې لومړي ځرکونه

محمد عثمان خان ساپی په عمر ۲۴ کلن و، چې د هېواد په ختيځو برخو کې د افغانانو او انګريزانو تر منځ جګړې روانې وې . نوموړي  د دې جګړې لپاره  له خپلې سيمې(تګاب) څخه يو شمېر مبارزين وړي دي او هلته يې  له انګريزانو سره سخته جګړه کړې ده.

د دې جګړې په اړه د ساپيانو په تاريخ کې ليکل شوي: « محمد عثمان خان ساپی چې له دغې شخړې څخه بريالی راستون شو نو د پيرنګي ښکيلاکي پوځونو په خلاف يې يو غښتلی هيوادنی ملي غورځنګ د يو شمېر ځوانانو په ملاتړ د تيارسی په حال کې ودراوه. ولې چې محمد عثمان ساپی په دې پوهه و، چې پيرنګيانو د ليونتوب جامې اغوستې، نو په دې ترڅ کې محمد عثمان توري او کريچونه تېره کول او په چټک ډول د کاپيسا ولايت او د پروان  په سيمو کې کور په کور، کلي په کلي، دره په دره د ملي خپلواکي غوښتونکي ملي غورځنګ په ځوانانو وګرځېد او هغوی د پيرنګي ښکيلاک ګرو جګړې ته را وهڅول او ټول يې په يووالي  د پرنګي مقابلې له پاره چمتو کړل. په دغه  وخت کې د نجراب درې ساپيانو د تګاب درې ساپيانو د کاپيسا مرکز شاو خوا ساپيانو او د پروان ولايت د سيمو ملي ځوانانو د محمد عثمان خان د قومادې په انتظار ناست و او ځانونه يې د پيرنګيانو مقابلې ته چمتو کړي و»(۴: ۲۱۸).





## کابل ته د روسيې پلاوي راتګ

د روسيې حکومت يو استازی د برید جنرال ستاليتوف په مشرۍ کابل ته راولېږه، دا هغه مهال و چې  د روسانو او انګريزانو تر منځ په سيمه کې سخته سيالی روانه وه او هندوستان  د انګريزانو مستعمره وه او افغانستان  د دوه سترو قوتونو په منځ کې واقع و، نو ځکه انګريزانو د افغانانو د واکمن «امير شيرعلي خان» څخه بار بار غوښتل تر څو خپل استازي افغانستان ته را واستوي او په افغانستان کې خپل سياسي کارونه پر مخ بوزي او په خپلو سياسي هڅو له دې ځای څخه د روسانو د راتګ مخنيوی وکړي.

د افغانستان د هغه مهال حکومت د انګريزانو د فريبونو څخه خبر تيا درلوده، نو ځکه په هېواد کې د انګريز نژاده استازي د اوسيدلو سره سخت مخالف و او افغاني واکمن هم دا نه غوښتل، چې د روسانو سره کومه دوستي ټينګه کړي، مګر روسان لاس بري شول خپل استازی يې افغانستان ته راواستوه. د دغه استازي  د راتګ په اړه تاريخپوه ښاغلي عطايي  د ليکنې ځينې برخې په لنډيز سره را اخلو:« دغه پلاوی په ۱۸۷۸ م  د جولای په ۲۲ مه کابل ته راغی. ستاليتوف امير ته يې د جنرال کوفمان ليک ورکړ او داسې  يې ځرګنده کړه چې  دوی



(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي د افغانستان او د روسیې تر منځ د دوستي تړون وکړي او په دغه تړون کې د امیر شیرعلي خان د ګران زوی عبدالله جان ولیعهدي په رسمیت وپېژني.

امیر داسې وګڼله چې د دغه روسي هیئت له وجود څخه به د انګریزانو په مقابل کې ګټه واخلي، خو روسي هیئت افغانستان ته په در واغو واعدې ورکړې، چې هغې کې یوه دا وه: تزارې روسیه به د افغانستان سره مالي او نظامي کومک وکړي البته انګریزان د افغانستان او در وسي تر منځ د دې ټولو مذاکاراتو او مکاتباتو څخه خبر و ځکه د هغوی مشهور جاسوس قاضي قادر د امیر شیرعلي خان په در بار کې موجود و.

څرنګه چې روسانو ستالیتوف په چلبازۍ رالېږلی و او امیر یې استعمال کړ دا د روسانو یوه ټکي وه ستالیتوف لا په کابل کې و، چې روسانو د برلین د کانګریس پریکړه لاسلیک کړه، نو په پټه یې لیک او سړی په کابل کې جنرال ستالیتوف ته را واستوه او ورته یې وویل: له افغانستان څخه په چل را ووځه او د امیر سره د هیڅ شي لاسلیک ونه کړې.

پر امیر انګریزي فشارونه و او روسيي هیئت له ده سره داسې واعده کړې وه، چې دوی به دېرې لویې قوې د امیر ملاتړ ته راواستوي. وروسته چې ستالیتوف له کابل څخه لاړ او انګریزانو د افغانستان په سرحدونو برید وکړ، نو امیر جنرال کوفمان ته خبر ورکړ هغه ورته په ځواب کې وویل د زیتون پاڼه په لاس کې ونیسه او انګریزانو ته مراجعه وکړه یعني له انګریزانو سره سوله وکړه.

انګریزانو چې د افغانستان پر سرحدونو بریدونه وکړل امیر شیرعلي خان د ناروغه فکر له امله ونشو کړای چې له ۵۱ زره روزل شوي مسلح، سواره پوځ څخه کار واخلي. نوموړي دا مناسبه وګڼله چې روسیې ته ورشي او هلته د ولسونو ویسرانو ته د انګریزانو





برید رسوا کړي، خو روسانو داسې کوښښ کاوه چې روسیې ته د امیر د ورتګ مخنیوي وکړي او جنرال کوفمان به ډاډ ورکاوه چې انګریزان به هیڅ کله په افغانستان برید ونه کړي او د امیر له خوا د التیماتم ځواب هم په ټاکل شوي وخت کې ونه رسید ه او خپلو عسکرو ته یې امر وکړ چې د سرحد دروازې د انګریزانو پر وړاندې خلاصې پرېږدي تر دې چې یوه پریکړه وکړي.

امیر په ۱۸۷۸ م کې د دسمبر په لسمه نېټه یو لوی دربار جوړ کړ، چې په دې دربار کې ډېر قومي مشران او ديني عالمان هم و او هغوی ته یې وویل چې زه مزار ته ځم، له هغه ځایه پترزبورګ ته او بیا به زه له انګریزانو سره خپله کړنه وکړم. همدا و چې ۱۸۷۹ م د جنوري په میاشت کې مزار شریف ته ورسېده او د فبروري په ۲۱ مه د ۵۶ کلونو په عمر له دې دنیا څخه نا اومیده لاړ»«۸: ۱۱۱ـ۱۱۷».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغانستان ته د انګريزي پوځونو ننوتل

کابل ته د روسيي پلاوي راتګ، انګريزان ډېر په تشويش کړي و، نو انګريزانو پر افغانستان باندې يرغلونه پيل کړل بهانه يې دا وه چې د امير شيرعلي خان لخوا د التيماتوم ځواب په ټاکلي وخت کې دوی ته ونه رسيده . انګريزانو له درې محاذونو څخه د کندهار، کرمې او خيبر څخه پر افغانستان خپل يرغل پيل کړ.

له ديره غازي خان له لارې څخه بولان، کوټه، چمن او قندهار ته را پورې وتل او د پېښور، جمرود، علي مسجد او ډکې نه د جلال اباد په لوري راغلل او دربېمه ډله يې له کوهاټ نه د ټل په لاره پيوار، ځاځي ، ميدان ، خوست او د لوګر په لوري يې نظامي حرکتونه پيل او درې واړو ډلو غوښتل، چې په يو وخت کې کابل ونيسي.

د قندهار د محاذ قومندان جنرال دانيلډ ستورات و، دغه محاذ ۱۲ زره پوځيان درلودل، د کرمې محاذ۱۵ زره پوځيان درلودل، چې مشري د جنرال پيردريک رابرټس په غاړه وه او د خيبر محاذ مشرى د جنرال سرساموېل براون په غاړه وه چې ۲۵زره پوځيان يې درلودل چې د انګريزي پوځ ټول شمير شاو خوا ۶۰زرو ته رسېده.

په دې ترتيب د ۱۸۷۸م د نوامبر په ۲۱ انګريزانو خپل بريدونه پيل کړل. افغانستان ته په داخليدو يې د پولو در وازې خلاصې وليدې ځکه چې امير شير علي خان خپلو پوځونو ته د شاتګ امر کړی و او خلک د التيماتوم څخه خبر نه و . د انګريزانو بريدونه ناڅاپي و تر څو چې د هېواد د سيمو خلک پرې خبريدل انګريزانو په ټولو مهمو لارو کې ستراتيژيک او مهم ځايونه نيولي و«۹: ۶۱۶».

انګريزي پوځونو قندهار، ننګرهار او پکتيا ته د راتګ په لاره کې د افغانانو د سختو





مقاومتونو سره مخامخ شول ، ډېر ځاروي او عسکر يې تباه شول په جلال اباد او قندهار کې په عسکري چونيو کې کلابند پاتې شول. دې اوضاع انګريزانو ته څرګنده کړ ه چې په نظامي زور د افغانستان ساتل ناممکن دي. لار د ليتن او د هغه نظامي افسران د دې په ځای چې هندوکش ته ورسيږي د خپل ځان د خلاصون په فکر کې شول.

انګريزانو کيوناري په دې وګماره چې امير محمد يعقوب خان سره د سولې خبرې وکړي، د افغانستان په ختيځو او جنوبي سرحدي ښارونو کې د انګريزانو د بريدونو څخه شپږ مياشتې تيرې شوې وې چې په ۱۸۷۹ م د می په ۲۶ مه د کابل سره د کيوناري اړيکه ټينګه شوه او امير محمد يعقوب خان په خپله د ګندمک د معاهدې لاسليک له پاره ګندمک ته لاړ. که څه هم د افغانستان خلکو نه غوښتل چې د انګريزانو سفير دې کابل ته راشي خو امير محمد يعقوب خان د می په ۲۶ مه د ګندمګ تړون له انګريزانو سره لاسليک کړ«۹: ۶۱۹».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګندمک تړون

کله چې انګریزان پوه شول، چې په زور سره د افغانستان په خاوره یو قدم پر مخ نه شي تلای ، نو مجبوره شول چې د خبرو له لارې خپل هدف تر لاسه کړي نو امیر محمد یعقوب خا ن ته یې د خبرو وړاندیز وکړ ، همغه و چې خپل اهداف یې په یو تړون کې راټول او په محمد یعقوب خان باندې یې لاس لیک کړل له دې لارې انګریزان خپلو موخو ته ورسېدل.



انګریزان په نړۍ کې سخت غچ اخیستونکی قوم دی ګندومک یې ځکه دغه تړون لپاره وټاکه چې نژدې ۴۰ کاله وړاندې د دوی ۱۷ زره عسکر همدلته له منځه تللي و او وياړونه يې د ګندومک په سیمه کې د خاور سره خاورې شوي و«۸: ۱۲۳».

د تړون د لاسلیک پر وخت یو شمېر افسران او نظامي قوې هم ور سره وې. سرلیوس





کیوناري د نورو سیاسي کسانو سره هم حاضر و. دغه تړون د لاندې ما دو په بنا د انګریزانو او امیر محمد یعقوب خان او د هغه د متعلقاتو تر مینځ د تلپاتې دوستۍ د ټینګښت په موخه لاسلیک شو.

د تړون مادې په لاندې ډول ذکر شوي دي:

۱ ـ له هغې ورځې څخه چې معاهده د دواړو اړخونو څخه تصدیق کېږي، د برطانیې د حکومت او د افغانستان امیر ، د هغه ځیناستو او نورو متعلقاتو تر مینځ به دایمي سوله او دوستي بر قراره وي.

۲ ـ د افغانستان امیر او د هغه اتباع تعهد کوي، چې د معاهدې د تصدیق وروسته به ټولو هغه کسانو ته عمومي عفوه اعلانوي، چې د جنګ په دوران کې د انګلیس عسکرو په طرفداری ولاړ و. دوی چې په هره درجه او مرتبه کې وي د مجازاتو څخه محفوظ دي. لکه سر دار ولي ، محمد خان لاتي او نور.

۳ د افغانستان امیر او د هغه اتباع ژمن دي چې د خارجي رابطې په برخه کې دې د برطانیې د حکومت د مشورې پابند وي او د افغانستان امیر حق نه لري چې د نورو هېوادونو سره روابط ټینګ کړي او د خارجي حملې په صورت کې به د انګلیس حکومت د امیر سره نظامي کومک کوي او ځرنګه چې د انګلیس حکومت مناسبه ګڼله د دفاع په خاطر به پیسې او وسلې ورکوي. انګلیسي عسکر به د دفاع د کار د سرته رسېدو څخه وروسته د برطانیې قلمرو ته مراجعه کوي.

۴ـ د برطانیې د حکومت او عالیحضرت د نږدې ارتباط او هم د افغانستان سرحدونه د پردیو د تېریو څخه وساتي، نو د انګریز دولت لازمه ګڼله چې خپل دایمي نماینده افغانستان ته واستوي. او یو ټولګی عسکر ځان سره ولري د انګریز حکومت حق لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ضرورت په وخت خپل استازي افغاني سرحداتو ته واستوي په مقابل کې د افغانستان امیر حق لري خپل نماینده د هند ویسری در بار ته او نورو هندي مقاماتو ته واستوي.

۵ د انګریز د نوماینده ګانو حفاظت به د افغانستان د امیر او د هغه د اتباعو په غاړه وي او د انګلیس حکومت به تعهد کوي، چې د دوی استازي به د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه نه کوي.

۶ ـ د افغانستان امیر او د هغه اتباع د خپل ځان او خپل ځای ناستو له خوا تعهد کوي، چې په افغانستان کې به د انګریزي نماینده ګانو او نورو کسانو سره چې د تجارت له پاره افغانستان ته تګ او راتګ کوي دوی سره ښه سلوک کوي او په شخصي معاملاتو کې به یې لاس وهنه نه کوي.

۷ ـ څرنګه چې تجارت د دواړو تر منځ په مسلسله توګه جریان لري د افغانستان امیر تعهد کوي چې د تجارانو حفاظت او د تجارتي مالونو د عبور له پاره سهولتونه برابروي.د تجارت د ترقی تجارتي مالیاتو او نورو په هکله به یو بیل قر ارداد د یو کال په اوږدو کې لاسلیک کړي.

۸ ـ د تجارتي روابطو او د تګ راتګ د سهولت په خاطر دواړه لوري تعهد کوي چې د کرمې څخه تر کابله پورې د تلګراف یو خط د برطانیې په لګښت غځول کېږی او حفاظت به یې د افغانستان امیر په لاس کې وي.

۹ ـ څرنګه چې د دواړو حکومتونو تر منځ د دې معاهدې له مخې دوستي بر قراره شوې ده. د برطانیې حکومت د قندهار او جلال اباد او هغه سیمې چې د برطانیې تر قبضې لاندې دي، بېرته یې سپاري، په استثنا د کرمې او پشین سیمې، چې د





برطانیې د حکومت د تسلط لاندې دي. اما دا تلسط به دایمې نه وي. د هغه مالیات به د داخلي پر داخت وروسته کال په کال د افغانستان امیر ته سپارل کېږي.

د برطانیې حکومت د میچنی او خیبر انتظام چې د جلال اباد او پېښور ترمنځ واقع دي په خپل لاس کې اخلي، او د هغو قبایلو د تګ او راتګ انتظام چې په دې دواړو سیمو کې قرار لري ، برطانیه یې په خپل لاس کې اخلي.

۱۰ ـ که چېرې د افغانستان امیر وکولای شي، چې خپل بشپړ اقتدار ټینګ کړي او هم د دغه تړون شرایط په صاداقانه ډول مراعت کړي، نو د برطانیې حکومت به د کال ۶۰۰ زره کلدارې امیر او د هغه ځای ناستو ته ورکوي«۱۱:۶۱۱».

امیر محمد یعقوب خان لاسلیک        د سر لیوس کیوناري لاسلیک

## د کیوناري راتګ کابل ته

د امیر محمد یعقوب خان او د انګریزانو تر منځ د ګندمک تړون په پایله کې انګریزانو د سیاسي تدبیر له لارې په کابل کې د خپل استازي د شتون د پاره لاره هواره کړه او هغه شېبو ته چې انګریزان له پخوانه ستر ګې په لار و په ډېره اسانی سره ورسېدل.

انګریزانو خپل سفیر کیوناري چې د کابل خلک یې د کمناري په نوم یادوي، د ګندومک د تړون د څلورمې مادې په اساس د ۵۶۰ ساتونکي ګارد سره چې مشري یې د لفتنت همتن په غاړه وه کابل ته راغی او د امیر محمد یعقوب خان د یوې عسکرې قطعې له خوا یې هر کلی وشو او په بالا حصار کې یې د امیر محمد اعظم خان په قصر کې واړول« ۹ : ۶۲۰».

کله چې کیوناري کابل ته راغی د مکناټن په خبر یې د افغانستان د حکومت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاروکې لاس وهنه پیل کړه، تر هر څه د وړاندې یې د معاشاتو کار په لاس کې واخیست او داسې فکر یې کاوه چې افغانان به د نوموړي په دې عمل مات شي مګر د افغانانو غرور یې را وپاروه.



امیر محمد یعقوب خان په هرات کې خپل ورور محمد ایوب خان ته احوال ورکړ چې یو ډلګۍ عسکر را ولیږي، دغه عسکر د لارې په اوږدو کې ډېر ستړي او ستومانه و، بې پیسو او وږي هم و. دوی ته ویل شوي و چې معاش به ورته په کابل کې اجراشي. دغو عسکرو سپه سالار داود شاه خان ته مراجعه وکړه هغه ورته وویل چې اوس اختیار له کیوناري سره دی، هغه په بالاحصار کې دی هغه به یې تاسو ته اجرا کړي ، خو کیوناري ،چې د پخوا نه چل او فریب کاوه د دوی پر ورتګ وو بریده او فکر یې وکړ چې پر دوی(انګریزانو) د پاڅون کونکو برید پیل شو«۸: ۱۲۵».





## د محمد عثمان خان ساپي خوب لیدل

کله چې انګریزي سفیر (کیوناري) د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه پیل کړه، محمد عثمان خان ساپی د کیوناري په دې کړنو ډېر خوربده او بل دا چې د ده ایمان او ضمیر دا نه منله چې د نوموړي د قوم پر سر دغلامی سیوری ولاړ وي، نو ځکه محمد عثمان خان به تل فکر مند ښکاربده تر څو د انګریزانو سره په کوم ډول جګړه پیل کړي.

یوه شپه چې محمد عثمان په خپله حجره کې د لرې سیمو میلمانه درلودل، د خوب کولو څخه یې مخکې د میلمنو سره د کیوناري په منفي کړنو بحث کاوه نو کله چې نوموړی ویده شو ، د شپې په نیمه برخه کې خوب ویني چې نوموړی (محمد عثمان خان)د کور په لور روان دی او هوا ټوله ګرد جنه ښکاري کله چې قدم اخلي په هرقدم سره ټکان خوري لکه څوک چې برق ونیسي کله چې په دروازه ورننوت ګوري چې خړې اوبه د کلا منځ ته د کلا د دیوالونو له تیرو څخه راوزي چې د کلا د لودیځ لوري دیوال راپر بوته او په ترتیب سره د کلا د برنډې او د کوټو دیوالونه راپرېوزي محمد عثمان خان لګیا دی د ډېرو لاندې د خپلې کورنی غړي را باسي بیا یو ځلي ټکان خوري چې پښې یې د ځمکې په تل نه لګېږي چې د کلا د ختیځ دیوال مخامخ برخه پر ده را پرېوزي چې نوموړی یوه چیغه وهي او له خوبه را ویښېږي.

نوموړی بېرته ویده شو د شپې په وروستۍ برخه کې بیا یو داسې خوب ویني چې محمد عثمان خان کله خپل باغ ته داخلیږي د باغ په مینځ کې د اور لمبې خپرې دي او هره اونه په اور کې رانغښتې ده د خپلې منګولې په خاورو ډګوي او په اور یې ور شیندي او وروسته یو تبر را اخلي له هرې ونې څخه اور په دغه تبر مړ کوي چې په دې وخت کې د نوموړي ورور سید محمد هم دلته شته دی، چې د ونې له سر څخه د واورې په شان د اور دوه غونډاري(توپ)را پریوزي د دواړو ورونو په کالیو ننبلي بیا دواړه وروونه پر اسونو سپاره دي، سپینې جامې یې په تن دي او ډېر شمېر خلک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی پسې روان دي، دوی له خپلو اسونو نه د خپل کلي د چينارونو لاندې کوزيږي.
کله چې محمد عثمان خان ساپی ويښ شو درې ورځې يې روژه ونيوله د خلکو د رویاتو پر بنا د پورتني خوب تعبير په لنډ دول داسې دی، چې انګريزانو زموږ پر هيواد بريد وکړ، په ظلم او ستم يې لاس پورې کړ، د کابل تاريخي بالاحصاريي وران کړ د کابل په زړه کې جګړو زور واخيست او د اسمايي په غره کې محمد عثمان خان او د نوموړي ورور (سيد محمد خان)د شهادت جامونه وڅښل چې دوی يې له هغه ځا ی څخه په اسونو تګاب ته راوړل او د خپل کلي تر چنارونو لاندې خاورو ته وسپارل شول[۳].

[۳] مدير امين الله خان د غازي محمدعثمان خان د کورنی غړی او د تګاب د خانانو د کلي اوسيدونکی.





## په تګاب کې د محمد عثمان خان ساپي غونډه

د انګريزانو په زړه کې همدا هيله وه، چې افغانستان هم د هندوستان په څېر په خپله مستعمره کې شامل کړي خو افغان ميړني او غېرتي قوم ته د انګريز يو قدم اينښودل په خپله خاوره کې د زغملو وړ نه و. په همدې اساس په يو شمېر کليو، حجرو او جماتونو کې به اولسي خلکو د انګريزانو سره د جګړې په اړه په خپل منځ کې هم بحثونه کول. محمد عثمان خان ساپی چې د خپل قوم مشر و لازمه يې وګڼله چې شاو خوا سيمو کې د علماو، سپين ږيرو، سردارانو او ځوانانو سره د جګړې په اړه يو پلان طرحه کړي . محمد عثمان خان د غونډې د تاکل شوې نېټې نه دوه ورځې مخکې خپلو نفرو ته اسونه ورکړل چې تر څو د کاپيسا د يو شمېر سيمو، کوهستان، کوه صافي ، نجراب، بدراب ، اله سای او د لرې سيمو خلکو ته د راتګ پر مهال ستونزې نه وي . په ټاکل شوې نېټه غونډه پيل شوه چې په سر کې محمد عثمان خان وينا وکړه او د غونډې موخه يې ګډونوالو ته روښانه کړه او ويې ويل: « علما او سپين ږيري دې د ټولو سيمو په شمول د مجاهدينو يو عمومي مشر وټاکي تر څو د هغه په لارښونه جګړه وکړي». له دې وروسته د غونډې د ګډونوالو له خوا محمد عثمان خان ساپی د عمومي مشر په توګه وټاکل شو او ټولو خلکو ژمنه وکړه چې د مرګ تر سلګۍ پورې به هم د ده تر مشرۍ لاندې په دې جګړه کې برخه اخلي.

په همدې غونډه کې علماو او مشرانو له خوا د وخت د لويو فرعونيانو او د سکندر او چنګيز د ظلمونو يادونه هم وشوه او د هغوی د هلاکت تصويرونه يې روښانه کړل او وروسته محمد عثمان خان خپل ولس ته وعده ورکړه چې کله دې له تګاب څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ په هدف حرکت کوي تر څو چې یې انګریزان له افغانستان څخه شړلي نه وي او یا دی شهید شوی نه وي تر هغه به د تګاب په لور نه راګرځي[۵].

## د محمد عثمان خان په مشرۍ د ملي غورځنګ جوړېدل

مخکې یادونه وشوه چې انګریزانو د افغانستان د حکومت په کورنیو چارو کې لاسوهنه پیل کړه، دا اوازې د خلکو منځ ته هم رسېدلې وې ، نو د دوی په دې کړنو محمد عثمان خان ساپی هم ځورېده ځکه یې د ملي پاڅون د جوړېدو پرېکړه وکړه. د کاپیسا ولایت په لویو سیمو وګرځېده، د تګاب، نجراب، محمود راقي، کوه ساپی د اوسنۍ کاپیسا، پروان او پنجشیر له سردرو څخه یې یو ملي لښکر جوړ کړ. محمد عثمان خان ساپي لومړی په خپلو سیمو کې د انګریزانو د جګړې له پاره لیکې منظمې کړې بیا کابل او یو شمېر نورو لویو سیمو ته لاړ هلته یې د نورو ولایتونو او سیمو له غازیانو سره خبرې وکړې او د بالاحصار د جګړې په اړه یې هم د نورو سیمو له مشرانو سره مشوره وکړه.

غازي محمد عثمان د جرائت او ځوانمردي له امله د انګریزانو په دویمه جګړه کې د ټو لو غازیانو له خو مشر ټاکل شوی دی، چې د کابل په شیرپور او اسمایي جګړه کې په لومړي سنګر کې د انګریزانو سره جنګیدلی دی.په دې جګړه کې د افغانانو سره توري وې او ځینې پخوانی اوږده ټوپک هم و، خو انګریزان د وسلو له پلوه پوره سنبال و[۶].

[۵] مدیر امین الله خان د غازي محمد عثمان خان د کورنۍ غړی او د تګاب د خانانو د کلي اوسیدونکی.
[۶] ډګروال غلام حیدرخان د کابل د حربي ښونځي پخوانی استاد.





## د بالا حصار جګړه او غازي محمد عثمان خان

انګریزانو د کابل واکمنۍ خپله ګڼله او کیوناري له نورو انګریزانو سره د افغانانو په کورنیو چارو کې لاسوهنې ډېرې کړې وې ، نو محمد عثمان خان د نورو غازیانو په څېر په تګاب کې د ځوانانو په ملاتړ یو غښتلي ازادي غوښتونکي غورځنګ، د تیارسی په حال کې د انګریزانو په مقابل کې درولی و د دوی وسلې توري او چړې وې.

محمد عثمان خان په دغه وخت کې د دې ځای د روایاتو له مخې د پنځه(۵) تنو ساپیانو سره د پنج شنبې په ورځ سهار وختي د تګاب له درې څخه یې مخ په کابل حرکت وکړ او د کوه ساپی په غرونو واوښتل، چې د لارې په اوږدو کې د کوه ساپي ځوانان هم ور سره ملګري شول. کله چې کابل ته ورسېدل، نو هلته یې د محمد جان خان وردګ او ملا مشک عالم سره پریکړه وکړه چې د سپټمبر په دریمه نیټه به سهار وختی په بالا حصار باندې د ازادۍ لښکرې خپل بریدونه کوي.

محمد عثمان خان ساپی له هغه ځایه بېرته سروبي ته را وګرځېده ، د شپې په تیاره کې له کوه ساپی څخه یې ځان تګاب ته ورسوه. هلته یې لښکرې را غونډې کړې چې د نجراب د درې مبارز ځوانان هم ور سره ملګري شول، بیا د کوه ساپی د غرونو د لارې د چړو، تورو او ټوپکو په لاس مخامخ د کابل په لور روان شول چې د دې ملي غورځنګ مشري محمد عثمان ساپي کوله.

دغه لښکرې د ټاکل شوې نېټې د جګړې په هدف د شپې په تیاره کې له کوه ساپي څخه کابل ته ورسېدې. د سپټمبر دویمه ورځ وه چې د هېواد ننګیالي زامن د محمد عثمان خان په لار ښونه، د سهار ستر ګه لا نه وختلې، چې د کوه ساپی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غره را واوښتل او د کابل په سیمه باندې راښکته شول. د سپټمبر په دریېمه په بالاحصار یې جګړه پیل کړه. له دغه لښکر څخه د مجاهدینو یو مشر پیرمحمد ساپی پر بالاحصار وروخوت او توده جګړه پیل شوه . پیرمحمد خان ساپی باندې کیوناری ډزې وکړې او نوموړی په دې جګړه کې ټپي شو. پیرمحمد خان ساپی وویل :« زما د ټپي کېدو څخه څوک مه خبروئ چې د مجاهدینو روحیه کمزورې نه شي».

د نوموړي له زخم څخه وینې څڅېدې، چې محمد عثمان خان ساپی او محمد شاه خان ساپی لښکرې را ورسېدې ، ګوري چې پیرمحمد خان سخت ټپي پروت دی محمد عثمان خان او محمد شاه خان خپل ورور پیر محمد خان ته داسې وویل: « ورورہ ته ټپی شوی یې، موږ به تر هغې تا له دې ځایه څخه پورته نه کړو تر څو چې موږ ټول انګریزان له بالاحصار څخه ورک کړي نه وي او ستا غچ مو اخیستی نه وي».

د سپټمبر په دریېمه نېټه سهار وختي د خپل لښکر سره پر بالاحصار ور وختوت، درنه او سخته جګړه پیل شوه، چې د توپونو او د ډزو انګازې په ټول کابل کې خپرېدې ، د محمد عثمان خان لښکرې په چټکی سره بې له کوم ځنډ څخه مخامخ د پتنګانو غوندې پر بالاحصار ګهیځ په اونیمو بجو د دریېو غونډونو له خوا د خپلواکۍ له مبارزینو سره یو ځای یو منظم برید په بالاحصار پیل کړ.

افغاني مبارزینو لومړی پلا، د اسونو اخورونه مات او اسونه یې تیت او پرک کړل، په دې وخت کې یوې ډلې شیر پورته منډه واخیسته او له خپلو وسلو سره بېرته واپس راغلل پر بالاحصار ور وختل او منظمه جګړه پیل شوه. ملي مبارزینو د انګریزانو د سفیر(کیوناري) هستوګنځی کلابند کړ، د همدې ورځې په اوږدو کې محمد عثمان





خان او افغاني مبارزین د ودانۍ سر ته وختل او له هغه ځایه یې ودانۍ ته اور واچوه.

دا مهال امیر محمد یعقوب خان ډېر په ډار کې ولوېده او تورن جنرال داود شاه خان یې د خپل ولیعهد (ځای ناستي) او یو څو نورو کسانو سره د جګړې د مخنیوي له پاره مبارزینو ته ور ولېږل، چې د جګړې څخه لاس واخلي خو ملي مبارزینو په ډېر قهر سره پر داود شاه خان باندې د توري ګزار وکړ، داود شاه خان له اس څخه را ولوید، سخت ټپي شو او نورو استازو د خلکو د ملي غورځنګ د طوفان د خطرناکو څپو څخه په ګرد او دوړو کې خپل ځانونه په تیښته بریالي کړل.

په دې ورځ په انګریزانو باندې د ورځې له لسو بجو نه تر دریېمو بجو پورې ډېر بد حالت و، د شپې د اته بجو نه تر نهو بجو پورې د ملي خپلواکۍ ځوانانو او د ښکیلاک ګرو لښکرو تر منځ ډزې رواني وې او وروسته دواړه خواوې د خپلو ټپیانو او وژل شو کسانو په ټولولو کې وې،چې تیاره خپره شوه.

په دغه تاریخي ورځ بالاحصار کې میشت انګریزان ټول له مینځه تللي و، د مړو لټولو دا بله ورځ ۱۸۷۹ م د سپټمبر په څلورمه نېټه د ځینو سوځیدلو انګریزانو مړي پیدا شول، خو کیوناري په کې چا نه پېژنده . له دې پېښې وروسته انګریزانو د دریېو لارو څخه په افغانستان برید پیل کړ او غازي محمد عثمان خان د نجراب، د ده بالي، د پروان، محمود راقي، کوهستان، تګاب ، کوه ساپي او سید خیلو په سیمو وګرځېده د ځوانانو سره یې ولیدل او دوباره د جګړې په هدف یې خپلې تیاری ونیولې او له دې سیمو څخه بېرته تګاب ته لاړ«۴: ۲۲۰».

په دې جګړه کې له کیوناري سره د سفارت ۱۳۳غړي هم وژل شوي دي«۸: ۱۲۶».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنرال رابرټس د کابل په لور

غازي محمد عثمان خان چې د نورو افغاني مبارزینو په ملتیا انګریزي سفارت له منځه یوړ، نو افغاني واکمن امیر محمد یعقوب خان د دغې پېښې په اړه یو لیک ولیکه، چې د همدې موضوع په اړه ښاغلي غبار لیکلي دي: « کله چې انګریزي سفارت په کابل کې د هلاکت په سیند لاهو شو، نو امیر محمد یعقوب خان د یو لیک په ترڅ کې د دغه سفارت د تبا کېدو خبر جنرال فرید ریک رابرټس ته ورکړه او ویې لیکل چې په کابل کې عمومي انقلاب دی، زه په خپل قصر کې کلابند یم. د دې خبر په اورېدو سره د لندن څخه لارد لیتن ته تلګراف وشو او ویې ویل چې ملکه ستاسو په ټولو اقداماتو کې د سفارت د انتقام او د انګلیس د شرف او عزت د اعادې په خاطر له تاسو سره مرسته کوي«۹: ۶۲۱».

لارد لیتن رابرتس ته د کابل په لوري د حرکت امر ورکړ، او داسې نشرات یې کول، چې موږ کابل ته د امیر محمد یعقوب خان د حکومت د استحکام له پاره ځو او د سفارت له قاتلینو څخه انتقام اخلو، خو د نورو خلکو سره هیڅ کار نه لرو.

جنرال رابرتس له پوځ سره د شتر ګردن په سیمه کې د یو تصادم نه وروسته لوګر ته داخل شو، د ولسي خلکو سخت بریدونه یې ولیدل، خو کابل ته نژدې شول. په چهار آسیاب، سنګ نوشته کې د سختو مقامتونو څخه وروسته بن حصار ته او له هغه ځایه کابل ته داخل شول . خپله اردو یې په تپه مرنجان کې ځای پر ځای کړه او په لوړو نقطو کې یې توپونه نصب کړل، بالاحصار او نور ځایونه یې وسوځول. په ظلم ، تېري او د کابل ولس په ازارولو او شهادت یې لاس پورې کړ«۹: ۶۲۳»





همدا ډول د انګریزانو یو شمېر نورو لښکرو د هېواد په جنوب او ختیځ کې یو شمېر سیمې ونیولې. انګریزانو په اول د دسمبر، امیر محمد یعقوب خان د انګریزي پوځ له یوې قوي ډلې سره هندوستان ته ولېږه، له دېنه یوه اونی وروسته یې سردار یحیی خان ، زکریا خان او وزیر محمد شاه خان هم هندوستان ته بندیان ولېږل او مستوفي حبیب الله خان یې ځکه جلا وطن نه کړ، چې هغه به په افغانستان کې له انګریزانو سره مرسته وکړي«۱۰: ۸۷۹».

## ولسي پاڅون (د ۱۸۷۹م، دسمبر)

افغانانو چې په کابل کې د انګریزانو ظلم او ستم ولیده، چې خلک یې وژل ، زورول او بې کوره یې کول او هم یې د کابل تاریخي ځایونه ورانول او ورځ په ورځ د دغه ظلم لمن لاپسې پراخېده، نو ولس نور دغه ظلمونه نه شول زغملی، نو د وسلو او تورو د لارې یې عملاً مبارزه پیل کړه.

کله چې انګریزان کابل ته ننوتل، پنځه پنځوس ورځې تېرې شوې وې ، افغان ولس ته روښانه شوه چې انګریزانو د افغانستان امیر (محمد یعقوب خان) هندوستان ولېږه او دوی د کابل په ښکلي ښار کې اور بل کړی، نو د افغانستان غیرتي او مجاهد ولس یو ځل بیا جګړې ته تیار شول. په هر ځای کې مجاهدینو خپل مشران وټاکل، د کابل، کوهدامن او د کوهستان مجاهدینو د محمد کریم خان، غلام قادرخان او میربچه کوهدامني په مشری، د پغمان مجاهدین د پرویز شاه خان په مشری ، د تګاب او نجراب مجاهدین د غازي محمد عثمان او د هغه ورور محمد شاه خان تر مشرۍ لاندې، د لوګر مجاهدین د غلام حیدر خان چرخي، د میدان وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهدین د غازي محمد جان خان تر مشرۍ لاندې د غز ني او زابل مجاهدین د ملادین محمد (ملا مشک عالم) تر مشرۍ لاندې، د هرات مجاهدین د ایوب خان او حفیظ الله خان تر مشرۍ لاندې د جلال اباد مجاهدین د د عصمت الله خان او حفیظ الله خان تر مشرۍ لاندې «۶۲۵:۹».

د یادو سیمو مجاهدین د انګریزانو د ویستلو په هدف مبارزې ته تیار و، چې دوی په ټاکل شوې نېټه د انګریزانو سره په جګړه لاس پورې کړ، په مرکز او یو شمېر نورو سیمو کې د انګریزانو پر وړاندې عملاً مبارزه پیل کړه او انګریزانو هم عملاً ولیده چې د دې هېواد نېول او پر افغانانو حکومت کول اسانه کار نه دی او مجاهدین تر هغې وجنګېدل تر څو چې یې انګریزان اړ ایستل چې د افغانستان له خاورې څخه د ماتې په حالت ووځي. بیا هم انګریزانو هڅه کړې چې د خپلو سیاسي هڅو د لارې په دې هېواد کې خپلو یو شمېر موخو ته ورسېږي.





## له غازي محمد عثمان خان ساپي څخه د انګریزانو غوښتنه

انګریزانو خپل استازي د سرفراز خان په امر او لارښونه، چې نوموړي(سرفراز خان) د غازي محمد عثمان خان له کورنۍ سره د دوستۍ اړیکې درلودې. سرفراز خان انګریزانو ته ویلي و چې د تګاب خلک زموږ دوستان دي او هغوی به له تاسو سره مرسته وکړي. دغه استازو د تګاب له خلکو او محمد عثمان څخه غوښتنه درلوده چې د انګریزانو پر وړاندې له مبارزې لاس واخلي.

د ساپیانو په تاریخ کې دې موضوع ته هم اشاره شوې ده: « انګریزانو سرفراز خان نومي سړي ته، درې لکه روپۍ ورکړې، چې دا سړی د غازي محمد عثمان خان د خپلوانو څخه و، چې پیسې محمد عثمان خان ساپي ته ورکړي او هغه له جګړې لاس واخلي. محمد عثمان خان ساپي او د ده ورور محمد شاه خان ساپی د ازادۍ د لارې ټول مبارزین را ټول کړل او د انګریزانو د پیسو دوکه یې ورته څرګنده کړه»«۴: ۲۲۲».

د غازي محمد عثمان د کورنۍ غړی ډګروال غلام حیدر خان وايي : « چې سرفراز خان د غازي محمد عثمان خان ماما له انګریزانو څخه پېسې راوړې وې، تر څو غازي محمد عثمان په افغانستان کې د انګریزانو سره مخالفت ونه کړي».

کله چې محمد عثمان خان ، د انګریزانو او سرفراز خان په هدف خبر شو له ډېره قهره یې په خپل ماما د سوک وار وکړ چې د خولې ژامه یې ماته شوه او د پیسو سره یې بېرته انګریزانو ته ولېږه او څو تنه یې هم ووژل او هغوی ته یې داسې خبر ولېږه، چې د افغانستان په هر ګوټ کې ستاسو د اوسېدو سره مخالف یم او د لوی خدای (ج )په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته په ستاسي ښکیلاکګر پوځ د توري په زور له افغانستان څخه وباسم.

د انګریزانو قواوې په نغلو کې ولاړې وې او غازي محمد عثمان خان هم د خپلو مبارزینو سره ورغی او انګریزانو د نغلو او غیبي بابا د سیمو په منځ کې سنګر نیولی و، چې محمد عثمان خان او د ده مبارزینو په ډېره زړورتیا سره جنګ شروع کړ او جګړې یو سخت حالت غوره کړ ځکه د ملي مبارزینو څخه انګریزان په دومره ویره کې شول چې ځانونه یې، د سیند اوبو ته واچول او مړه شول، ځینې انګریزان د غازي محمد عثمان خان د توري له امله ووژل شول. همدا ډول په دې جګړه کې د سروبي خلکو د محمد عثمان خان په امر او لارښونه چې د ده خپلوان و د نغلو د لارې پر انګریزانو برید وکړ او ټول انګریزان یې له منځه یوړل. له دې وروسته غازي محمد عثمان د تګاب، نجراب او د سروبي مجاهدینو سره یو ځای د تیزین سیمې ته داخل شو او هغه کسان چې د انګریزانو ملا تړي و، هغوی یې ارامه کړل د خپلو توریالیو مبارزینو سره یو ځای د تنګي د غار د لارې کابل ته لاړ[7].

(۷) ډګروال غلام حیدرخان د غازي محمد عثمان خان د کورنۍ غړی او د کابل د حربي ښونځي پخوانی استاد.





# غازي محمد عثمان خان د شېرپور په جګړه کې

غازي محمد عثمان د یو شمېر نورو افغاني مبارزینو سره یو ځای کابل ته ورسېده او په کابل کې د شیر پور په انګریزانو یې برید پیل کړ، چې انګریزانو د شیرپور په چوڼیو کې اړولې و، مګر د مجاهدینو د وسلو د نشتوالي له کبله د شیر پور چونۍ نیول ګران و. د هېواد زړورو غازیانو مخامخ د تورو او چړو څخه په استفاده په شیر پور حمله وکړه.

محمد عثمان خان د ۱۲۹۶ هـ ق د روژې په (۱۶) مه، چې د ۱۸۷۹ م د سپتمبر د دریېمې نېټې سره سمون لري د دغه بریالۍ جګړې وروسته بیا د انګریزانو مقابلې له پاره ده د خپلې سیمې د ځوانانو په ملاتړ تیاری ونیوه، چې د تګاب د درې ساپیانو او د کوه ساپي سیمې د محمود راقي، د سید خیلو، پروان پنجشیر ځوانانو ور سره ملګري وو، چې په ۱۸۷۹ م کې د دسمبر په یولسمه نېټه له تګاب څخه را وخوځېده او د نورو سیمو ننګیالي ځوانان په ټاکل شوي وخت د لارې په اوږدو کې سره یو ځای شول.

دغه د ازادۍ حرکت څخه چې د انګریزانو جنرال مکفرسن خبر شو، چې زمریالی غازي محمد عثمان خان ساپی د یو لوی زورور لښکر سره د کابل پر لور روان دی، نو د ده پر زړه د ډېرې ویرې نه د تبې په څېر لړزه راغله، جنرال مکفرسن ډېر زړه نازړه د محمد عثمان خان ساپي سره په جګړه لاس پورې کړ.

عثمان خان ساپي د میکفرسن لښکرې د یو څه مجاهدینو ځوانانو سره په جګړه بوختې ساتلې وې چې په زرګونو ملي ازادي غوښتونکو ځلمیانو د غازي محمد عثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان په مشرۍ د دسمبر په ۱۲ مستقیماً د کابل پر شیرپور را وخوځېدل او د خیر خانې د لور نه را روان شول، دا چې برطانوي ښکیلاکګرو لښکرو د کابل کلکې مهمې مورچې نیولې وې، په دې ویره کې شول چې د دښمن دغه حرکت یو تکتیکي حرکت دی، نه ویل کېږي چې زموږ یو شمېر قواوې به په ډزو کې مصروفې وساتي او نورې قواوې به د شیر پور چونۍ ونیسي، ځکه د شیر پور قومندانۍ د انګریزانو قومندان رابرټس په غاړه واخیسته، د دسمبر په ۱۲ مه د غازي محمد عثمان خان ساپي قواوې شیرپورته رانژدې شوې په دې ځای کې یو غږ اوچت شو، چې غازي محمد عثمان خان ساپي لښکرې د شیرپور په دروازه مخامخ را رواني دي.

په دې وخت کې امپریالیستي ښکیلاکګرو پوستې چې د چونۍ په شاو خوا کې پرتې وې ځیني یې له کوم مقاومت څخه پرته چونۍ ته وتښتیدل. د دوی د تیښتې عامل دا و چې پخوا انګرېزانو ته د سپټمبر ۱۸۷۹ م د تاریخي ورځې جګړ ه کې په پوره ډول څرګنده او جوته شوې وه چې غازي محمد عثمان خان ساپي د انګریزانو کلک دوښمن دی او د خلاصېدو چانس ور څخه په هیڅ ډول نشته، چې پرنګي عسکر یې په جګړه کې په مخ ورشي بې له سر څخه یې بل ځای په توره نه پرېکوي . په دغه وخت کې انګریزانو د غازي محمد عثمان ساپي په وژلو پسې ډېر جاسوسان واچول.

د غازي محمد عثمان خان ساپي د ملي حرکت لښکرې چې په خیر خانه مېنه راوښتلې، په دې ترڅ کې محمد عثمان خان او د ده ورور محمد شاه خان ساپی د ازادۍ د لار ټول ملي مبارزین را غونډ کړل او د انګریزانو د پیسو دوکه یې ورته په ډاګه کړه.





غازي محمد عثمان خان د خېر خانې نه په شیر پور حمله وکړه او خورا سخته جګړه پیل شوه هر څومره چې انقلابي مبارزینو زیار وویست د لودیځ له خوا د شیر پور په چونۍ بریالي نه شول او ډېره تو ده جګړه روانه وه چې محمد عثمان خان سم له واره د خیر خانې مېنې د خواجه بغرا په کلي کې یوه جرګه جوړه کړه، په جرګه کې د ملي مبارزینو څخه میربچه خان، جلندر خان، سمدره یی، برزه خان، سمندره یي فتح خان بایاني، محمد شاه خان ساپی د محمد عثمان خان ورور، سرور چاریکاري ، شېر د وریش خان، باقشقاري، محمد شاه خان کالونګه، محمد اعظم خان بایاني او عبدالواسیع بایاني ټولو ګډون وکړ او د جرګې په پای کې دا رنګه پریکړه وشوه چې د هېواد ملي مبارزین دې په دوه برخو وویشل شي، چې یوه برخه دې د شیر پور په چونۍ ورشي او چونۍ دې د اور لا ندې ونیسي، دویمه برخه دې د خواجه بغرا د کلي څخه خواجه رواش کلا بند کړي، او ځانونه دې د بي بي مهرو غونډۍ ته ورسوي او د هغه لورې څخه دې د شیر پور انګریزې قواوې تر اور لاندې راولي. د جرګې په پای کې د مبارزینو له خوا د دې دواړو محاذونو عمومي قومندان غازي محمد عثمان خان وټاکل شو نور ځوانانو په ډېره چټکۍ سره خپل ځانونه ټاکلو ځایونو ته ورسول او ټینګې مورچې یې ونیولې.

د لودیځ له خوا د مخه جګړه روانه وه، چې د بي بي مهرو غونډۍ ځوانانو ته دا امر د محمد عثمان خان له خوا ورکړل شو، جګړه دومره زیاته سخته شوه چې د کابل فضا تورو لوګیو نیولې وه او دوړې تر اسمانه پورې پورته کېدلې هغه ملي مبارزینو چې جنرال مکفرسن انګریزي قواوې په جګړو کې بوختې ساتلې وې، د محمد عثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د لښکرو تر شا يي جګړه رواړه او د محمد عثمان خان لښکرې يې په منځ کې ایساري کړې په دې ځای کې توده جګړه روانه وه چې د میر بچه خان په مشری یو لوی ټولګی ځوانان د جګړې ډګر ته را ورسېدل او یوه ګړی لا تېره نه وه چې د ښېر پور مخې ته د وینو ډنډونه جوړ شول.

د پرنګیانو د مړو ډېری جوړ شوې په دغه وخت عثمان خان ساپی پرله پسې په مبارزینو ناري وهلې او قومانده یې ورکوله چې مخ پر وړاندې حرکت کوئ. دا ورځ په کابل کې ډېره سره او تو ده ورځ وه چې د توپونو او ماشینګرو غرمبار جوړ و، او د جګړې کری ورا په ورا راتنګېدله د ښکیلاکګرو لښکرو برچې په خپلو ټوپکونو نصب وې، مګر د خپلواکی مبارزینو تبرګي، چړې او تورې دې جنګ ته د ځان سره د پرنګیانو پر وړاندې راوړې وې، جګړه نیغه لاس پر لاس ونښته او خورا زیات انګریزان يې ټوټې ټوټې کړل، جنرال مکفرسن د خپلو قواو د خلاصون لاره وموندله په تېښته بریالی شو، او چونۍ ته یې ځان ور ورساوه، خو په پای کې جنرال رابرتس انګریزي افغاني سردارانو کلا بند کړ. په همدې ډول ټول انګریزي عسکر يې په چونیو کې ور غونډ کړل او د شیر پور چونۍ یې تر کلا بندی لاندې ونیوله»«۴: ۲۲۰-۲۲۳».

ښاغلي غبار لیکلي: « وروسته له هغې چې ملي قواو خپل دوښمن ته ماته ورکړه او هغو يې په شیرپور چونیو کې ځای پر ځای کړل، ملي لښکرې د کابل په ښار کې داخلي شوې، د تره خیلو خلکو تپه مرنجان او د لوګر خلکو د سپه سالار غلام حیدرخان چرخي په مشری د بالا حصار مرکز ونیوه، تحت شاه او د ښېر پور دروازه يې مستحکمه کړه او همدارنګه د ملامشک عالم او د جنرال محمد جان خان په لاس کې هم د کابل ښار و او جنرال رابرتس يې د لېوه په څېر د شیر پور په قفس کې ملي





ځواکونو بندي کړ و»«۹: ۶۵۴».

کله چې غازي محمد عثمان خان د خبر خانې د خواجه بغرا په کلي کې د مجاهدینو عمومی مشر وټاکل شو نو غازي محمد عثمان خان داسې فیصله وکړه چې د تګاب، نجراب، کوهستان، یعنې د کاپیسا، پروان، پنجشیر او د کابل مجاهدین دې له ما سره په اول خط کې حمله وکړي، د لودیځو او جنوبي سیمو مجاهدین دې د جنرال محمد جان خان وردګ او ملامشک عالم په مشری په دویم خط حمله وکړي[۸].

## په آسمايي غره کې د غازي محمد عثمان خان جګړه

د افغانانو لوی مبارز غازي محمد عثمان ساپي د شېرپور له جګړې څخه وروسته د آسمايي پر غره حمله وکړه چې دا یوه مهمه څوکه او په دې څوکو کې انګریزانو توپونه نصب کړي و، چې د کابل ټول ښار کې مجاهدین ترې ګرځیدی نه شول ځرنګه چې مجاهاین د آسمايي د غره د پرنګیانو څخه ډېر تنګ و، نو محمد عثمان خان په ډېر قهر له دوی څخه د خپلو لښکرو د وینو په توېولو دا غر ونیوه.

ښاغلي عبدالمالک د دې جګړې په اړه لیکلي: « آسمايي غر د کابل ښار په منځ کې پروت دی، دا غر په ۱۲۹۶ هـ ق چې د ۱۸۷۹ م سره سمون لري، د انګریزي قواوو په لاس کې و، محمد عثمان خان د ښېر پور په جګړه بوخت او په همدې ډول ملامشک عالم او غازي محمد جان خان وردګ لښکرو په آسمايي غره باندې یرغل ور وړ او توده جګړه يې پیل کړه. دوی تر هغه وخته پورې بریالي و، چې محمد عثمان خان په ښېر پور کې ستر بریالیتوب تر لاسه کړ او بیا محمد عثمان خان د آسمايي غره خوا ته مخه وکړه.

[۸] ډګروال غلام حید خان د غازي محمد عثمان خان د کورنی غړی او د کابل د حربي ښوونځي پخوانی استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي محمد عثمان خان ساپی په سملاسي ډول خپلې قواوې منظمې او هر ټولي ته يې مورچلې وټاکلې په ۱۸۷۹م کې د دسمبر په خوارلسمه نېټه محمد عثمان خان د هېواد د ملي خپلواکی د غورځنګ سرښندونکو ته قومانده ورکړه چې مخ پر وړاندې لاړ شي، د آسمايي د غره مبارزين په خورا زړور توب د آسمايي غره ته ور وختل چې تر دغې وخته پورې د ښکيلاکګرو په لاس کې و.

محمد عثمان خان توره له تېکې څخه را ويستله او په لاس کې يې وه، چې د جګړې پيل کې ده د يو انګريز په کوپړی وار و کړ او دوه ټوټې يې کړه او د سختې جګړې وروسته يې د آسمايي غر ونېوه او دغه انګريزي لښکرې چې د آسمايي د غره په څوکه کې پرتې وې ټولې محمد عثمان خان په خپل توره ټوټې ټوټې کړې او اسمايي غر يې ونيوه» « ۴: ۲۲۳ ».

په سراج التواريخ کې راغلي: « د يوې ورځې په موده کې انګريزان د ملت د ويرې نه تيت او پرک شول سبا ورځ محمد عثمان خان ساپی د تګاب او نجراب د خلکو سره کابل ته را ورسېده په ډېره زړور تيا سره يې د اسمايي غر چې د انګريزانو په لاس کې و پرې ورغی، او په ډېر قهر سره يې اسمايي غر له انګريزانو څخه ونېوه او کومو انګريزانو چې د غره د کلا و څخه دفاع کوله ټول يې په تبغ مړه کړل» «۱۱: ۳۵۸».

کله چې د جنرال محمد جان خان قواوې واصل اباد ته ورسېدې چې د شير پور په قلعه حمله وکړي خو د غازي محمد عثمان خان قواوې د اسمايي له غره څخه د شېر پور کلا انګريزان د شديد بريد لاندې راوستي و او دې ته يې اړ کړل چې د شېر پور کلا څخه تېښته اختيار کړي «۶:؟ »

عبدالمالک ساپي ليکي: « ځرنګه چې د آسمايي غر د محمد عثمان خان ملي





مبارزينو ونېوه، په دې سخته جګړه کې د کابل ټول ښار نورو افغانانو لاس ته راوړ، په دې سخته جګړه کې د کابل خلور سوه ښځو هم برخه اخيستې وه چې پر سرونو باندې يې د جګړې ډګر ته اوبه او ډوډی وړلې. دا داسې تاريخي جګړه وه چې په دغه غره ځوانان پرله پسې را ختل او آسمايي غر يې له انګريزانو څخه بيخي پاک کړ، خو په ۱۸۷۹ م کې د دسمبر په پنځلسمه بيا انګريزان د شير پور د چونې څخه را ووتل او د کابل ښار خوا ته يې يرغل يوړ چې په ظلم او ستم يې يو ځل بيا لاس پورې کړ.

په دغه وخت کې محمد عثمان خان د اسمايي په جنګ کې ښکېل و او دوی( انګريزان) په خلکو ظلم او ستم پيل کړ، نو د کابل ښار ښځو او نارينه و، ځوانانو او ماشومانو به نارې او سورې وهلې چې ای ! محمد عثمان خانه څه شوې؟ انګريزانو ستا د تورې شرنګ هېر کړی دی، او بيا يې جګړه راوړه.

په دغه وخت کې غازي محمد عثمان خان د افغاني ملي مبار زينو ته بيا قومنده ورکړه او جګړه خورا توده شوه، محمد عثمان خان په ډېره مېړانه وجنګېده او ملي مبارزينو ته يې نارې وهلې چې مخ پر وړاندې روان شئ ، تر شاه ونه ګورئ او خپله غازي محمد عثمان خان توره په لاس ، سترګې يې سرې شوې وې چې د انګريزانو سره يې لاس په لاس جګړه پيل کړه، چې غازي محمد عثمان خان په يو وار سره له يوه نه نيولې تر درې کسو انګريزي ککرې پرې کولې او په دغه انګريزي لښکرو کې توره په لاس داسې ور ګډ شو چې کوځې ويستلې او د وينو لښتې لښتي روان و، چې غازي محمد عثمان خان ډېرې (تېرې) ته تکيه وکړه او د جګړې د ډګر يو ځلمي مبارز ته يې مخه کړه چې هلکه ! ورشه اوبه راوړه چې ويې څښو.

بيا يې قومنده ورکړه چې مخ پر وړاندې! په دې ځای کې انګريزان بيا تېښتې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ شول په دغه وخت کې غازي محمد عثمان توره له تیکي څخه را ویستله او مخامخ د انګریزانو په پوستو ور روان شو ځای ې پر ځای ې انګریزي پوستې له مینځه وړلې او ډېر شمېر انګریزان یې ووژل، په دې ترخ کې چې نوموړی(محمد عثمان خان) د خپل لاس کینه خوا پرتې انګریزي پوستې باندې یې یرغل وکړ چې په ناڅاپي توګه نوموړی غازي د انګریزانو د توپ په مرمۍ ۱۸۷۹ م د د سمبر ۱۵ مه د هېواد ملي مبارز د ۴۰ کلونو په عمر د شهادت درجه وګټله او د نوموړي سره (۸۰) تنه نور هم شهیدان شول» «۴: ۲۲۳- ۲۲۵».

انا لله و انا الیه راجعون

په دې جګړه کې د نوموړي سره د ده ورور سید محمد خان ساپی، اته کسه نور تګابیان هم شهیدان شول بیا د غازي محمد عثمان خان او د غازي سید محمد خان د دواړو وروونو جنازې د دوی بل ورور او د مجاهدینو مشر محمد شاه خان د تګاب د نور شهیدانو سره یو ځای د تګاب ښکلې درې ته یوړل او په خپلې پلرنۍ هدیره کې د خانانو په کلي کې د عمومي سړک تر څنګ د یادې درې لویدیځې خوا د غره په لمن کې کې په خورا درنښت سره خاور ته وسپارل شول.

په همدې جګړه کې یو شمېر غازیان د سختې جګړې له امله د مراد خانې اوسیدونکو ته پناه وړې وه، د دې خلکو له خوا انګریزانو ته په لاس ورکړل شول او ټول ووژل شول، چې د دوی مقبرې د ارګ د باغ د شمالي برخې د دیوال په بیخ کې شته دې او د امیر عبدالرحمن خان په امر ګنبده پرې جوړې شوې ده« ۲: ۱۰۰».

میر غلام محمد غبار لیکي: « کله چې غازي محمد عثمان خان او د هغه ورور محمد





شاه خان د آسمایي په په غره برید وکړ، له انګریزانو څخه د آسمایي غر ونیوه ، انګریزان یې دومره ووژل لکه د غره د ځمکې پر مخ چې تیږې پرتې وي، نو رابرتس بېرته د غره د نېولو له پاره یوه قوي حمله وکړه، دغه غر یې د توپونو لاندې ونیوه چې مجاهدینو ډېر مقاومت وکړ. محمد عثمان خان ساپی د لښکر په سر کې، پیش قبضه په لاس کې وه د انګریزانو په توپخانه د سیلاب په څېر روان و، چې نا څاپه د توپ پر ګولی ولګیده ، د انګریزانو سره په دغه جنګونو کې د کوهستان، کوهدامن، تګاب، نجراب، پنجشیر او د غوربند مجاهدین زیات شهیدان شول»«۹: ۶۵۵»

وروسته د غازي محمد عثمان خان د شهادت نه مجاهدینو د کابل په شاو خوا پر انګریزانو د کلابندی کړی راتنګوله او د جهاد ادامه درلوده ، دغه وخت کې مجاهدین د غازي محمد عثمان خان په شهادت سره خفه و، مګر د ملي سرښندنې احساسات یې لاپسې را وپارول، خو د ده د وفات سره د مجاهدینو تر منځ یوه خلا رامنځته شوه. د انګریزانو هم دسیسې جوړولې. نو ځکه مجاهدین د یو قومي مشر د انتظار شېبې شمېرلې چې عبدالرحمن خان د بخارا څخه افغانستان ته راغی د مجاهدینو سره یو ځای شو، پروان ولایت ته راو رسېده د غزا اعلان یې وکړ مګر په پټه یې د انګریزانو سره خبرې شروع کړې وې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا رنګه د انګلیستان په اداره کې د ډیزیرائیلي په ځای د ګلیډستون حکومت جوړ شوی و، او تاکید یې کاوه چې د امیر عبدالرحمن ان سره باید اړیکې ټینګې شي. انګریزانو غوښتل چې قندهار د افغانستان ځینې بیل کړي او د کویټې سره یې یو ځای کړي، چې غازي محمد ایوب خان په قندهار کې پر انګریزانو یوه سخته



حمله وکړه چې ډېر شمېر انګریزان یې لمنځه یوړل او د قندهار د بېلېدو مسله یې د انګریزانو په تباهی بدله کړه او غازي ایوب خان د میوند د لوی فاتح لقب وګټه همدا ډول د ملالی نوم هم په دې جګړه کې ښه وځلیده .

امیر عبدالرحمن خان د انګریزانو سره موافقه وکړه او رسماً د افغانستان پاچا وټاکل شو او د انګریزان حمایت او ساتنه یې په یو خارجي سیاست کې ومنله، نوموړي په ډېرې بېړی سره د انګریزانو ځینې شرطونو ته غاړه کېښوده تر څو خپل ځان واک ته





ورسوي او انګریزان چې د کوم هدف په موخه افغانستان ته داخل شوې وي، دلته یې ډېر مالي او ځاني زیانونه ولیدل او د یو کال او نهه میاشتو وروسته یې د خپلې جګړې لمن ټوله کړه او د نظامي جګړې پر ځای یې خپلو سیاسي تدبیرونو ته پام واړوه«۹: ۶۶۸».

## د غازي محمد عثمان خان مزار

د غازي محمد عثمان خان او د هغه د ورور سید محمد خان قبرونه څنګ په څنګ د تګاب د نوروز خیلو په سیمه کې د خانانو په کلي کې د عمومي سړک تر څنګ د پخو خښتو د ګمبزې لاندې خښ دي، چې د دوی پر مزار د حامد کرزي د اوس مهاله حکومت(۱۳۸۴ هـ ش) کې د کاپیسا ولایت څخه اولسی جرګې ته نوماند انجینر سعدالله خان«سعدي» له خوا په عصري ډول پرې کار روان دی.

قبرونو ته ورتګ د کومې ستونزې له پاره داسې عملونه د اسلامي شریعت په رڼا کې روا والی نه لري او ډېرو سیمو کې دا رسم او رواج ګرځیدلی دی. د غازي محمد عثمان خان او د ده د ورورو مزار ته د تګاب، نجراب، اله سای او د یو شمېر لرې سیمو څخه ګڼ شمېر کسان نارینه او ښځینه راځي چې د نوموړو سیمو خلک زیاتره د پنجشنبې او جمعې په ورځ د اولسي دودونو په رڼا کې د دوی پر مزار شمعې بلوي. مګر ځینې کسان د نومیالي غا زي د مزار د لیدلو په هدف راځي څکه د خلکو په زړونو کې د نوموړي په کارنامو سره مینه رامنځته شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غازي محمد عثمان خان په نوم نوموني

کله چې په لومړي ځل په تګاب کې ښونځی رامنځته شو، د تګاب مرکزي سیمې ښونځی د تګاب ولسوالۍ د تعمیر بازار په ختیځه خنډه کې د تګاب د علماو، مجاهدینو، سپین ږیرو ، قومي مشرانو او نور ځوانانو لومړنی ښونځی د یوې غونډې په ترځ کې د غازي محمد عثمان خان په نوم ونوموه او د وخت په تېرېدو سره په نوموړې ښونځۍ کې منځنۍ او ثانوي زده کړو لړۍ هم پیل شوه او د نوموړي په نوم د تګاب مرکزي یا لومړنۍ لیسه رامنځته شوه چې د غازي محمد عثمان خان په نوم ونومول شوه او هم د نوموړي یو انځور د پوهنې وزارت په ودانۍ کې نصب شوی و، چې د نوموړي د انځور په لیدلو به ډېرو خلکو ته د نوموړي تېرې کارنامې یادیدلې.

د ډاکټر نجیب الله د حکومت په د وره کې د غازي محمد عثمان خان یو انځور د کابل د ښاروالۍ په لویدیځ دیوال لګیدلی و او کله چې په افغانستان کې نورې اداري یا نظامونه رامنځته شول د نوموړي پسې شعرونه ویل شوي، په یو شمېر کېښتو کې ثبت شوي هم دی او کله چې به د ملي مسایلو په اړه په تګاب کې غونده جوړېدله نو وینا والو به د غازي محمد عثمان خان ډېره ستاینه کوله.

د حامد کرزي د اوسني جمهوریت په دوره «۱۳۸۵ هـ ش» کې په کابل کې د دولتي لوړ پوړو چارواکو له خوا د د ه په نوم د کارته پروان په سیمه کې د نادرې لېسې په لویدیځه برخه کې یو واټ ونومول شو.

اوسمهال د نوموړی د کورنۍ یو غړي ډاکتر محمد ایوب ساپي د کابل په چهاراهي قمبر سیمه کې خو بستریز روغتون د غازي محمد عثمان خان ساپی په نوم جوړ





کړی دی. همدا ډول د تګاب د روڼ انده شخصیت (پښتونیار صیب) له خوا په جلا او ځانګړو کلنیو کې د نوموړي انځور هم چاپ شوی او خپور شوی دی.

## غازي محمد عثمان خان د شعرونو په هنداره کې

د ملي اتل غازي محمد عثمان خان په اړه د هېواد ډېرو شاعرانو شعرونه ویلي دي، چې د هېواد ملي خپلواکۍ پر ورځ هم د ده په یاد شعرونه ویل کېږي. په تېره بیا هغه وختونو کې چې زموږ هېواد ته ښکیلاکګر د ښکیلاک په سترګه ګوري.

د ګل ملا همکار یو شعر چې د وحدت په ورځ پاڼه کې په ۱۹۹۶ م کې د می په ۴ مه د غازي محمد عثمان خان په یاد، تر عنوان لاندې چاپ شوی و او د نوموړي کارنامې یې په خپل شعر کې داسې انځور کړې دي.

# د غازي محمد عثمان خان ساپي په ياد کې

**شاعر ګل ملا (همکار)**

يوه قيصه مې ده ليدلې
په کتاب کې ده راغلې
دولسوه اونويم
او په مياشت د محرم
اسمايي د غره د پاسه
جهاد پيل شو له اخلاصه
سر اوچت محمد عثمان که
چې دوښمن يې حق حيران که
اسمايي د غرونو شېر و
دی د خپله سره تېر و
داسې شېر چې شمشېرزن و
غزاګانو کې تورزن و
يوه ورځ دوښمن له لوري
قاصد راغلو که يې ګورې
ويل يې لاره راته راکړه
مور خوښ په دا سو دا کړ ه
اشرفی به درته درکړم
تا به خوښ په سيم او زر کړم
دا وينا لا خلاصه نه وه
چې په سوک يې خوله کړه وه
د قاصد ژامه شوه ماته
د ده خونه شوه مراته

په دوښمن کړي غورځنګونه
په وطن کوي ننګونه
سم د لاسه را روان شو
عثمان خان مر د ميدان شو
په دوښمن کړي غورځنګونه
په وطن کوي ننګونه
د توپونو په ګولو
سيمه ونيوه لوګو
د انګريز سپاهيان يې مړه کړه
په سپېرو خاورو يې ماړه کړه
دا هغه محمد عثمان و
غيرتي ځوی د افغان و
يوه ورځ چې سپين سحر شو
راښکاره په اسمان نمر شو
پر غليم يې يرغل وکړ
تصرف يې په هغه غر ه کړ
دغه کوه اسمايي و
جنګيدلي پرې ساپي و
تر هغې چې په سنګر و
په نصيب د ده ظفر و
ده سره اته ياران و
ډېر نامتو غازيان و

صرف د رب«ج»رسول رضاه وه
د غازيانو مدعا وه
داسې خلک تل د وياړ وي
چې په دين وطن ولاړ وي
اروا ښاده عثمان خانه
رب دې راضي شي له تانه
ستا زامن هم شهيدان شول
ستا په لاره در روان شول
تا انګريز و زغلولی
هغوی روس دی ځملولی
کوم چې پاتې نن ژوندي يو
خپل منځي جنګ کې ستي يو
ته ژوندی يې په جنت کې
رب ته وايې په جرائت کې
چې مور خلاصه کړه له ماتمه
او راووځو له تور تمه
دا ارمان راشي له جنګه
د توپونو او تفنګه
چې لږ ساه واخلو همکاره
د راکټ او ماشينداره
(۴:۱۲).





د غازي محمد عثمان خان ساپي تر شهادت وروسته د ده يو قومندان  د تګاب په ښکلې سيمه کې چې د غازي محمد عثمان خان نژدې ملګری و او په لړمي سره يې شهرت درلوده، کله چې قومندان لړمی په يوه جګړه کې مړشو، نو د سيمې خلکو به په ترنم داسې ښکلي الفاظ  له خولې څخه ويستل:

دا لړمی به دې خوک جګ کړي له ميدانه
غازي محمد عثمان خانه

همدا ډول اوسمهال چې کله د تګاب سيمو ته د هېواد له جنوبي برخو څخه يو شمېر سوالګرې ښځې راځي او د يو کور مخ ته د سوال له پاره ودرېږي نو داسې الفاظ په لوړ اواز سره زمزمه کوي:


ارمان ارمان که ته مړ نه وای عثمان خان غازي
دا ستا د لاسه کمپنی ته ګوره، ګانې راځي [۹]

[۹] مدير صيب امين الله خان د غازي عثمان د کورنی غړی او د تګاب د خانانو د کلي اوسيدونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غازي محمد عثمان خان د کورنۍ شجره








# غازي پیر محمد خان ساپی

د غازي محمد عثمان خان د پلار له وفات نه وروسته د ده مور نورمحمد خان ساپي په نکاح کړه، چې پیر محمد خان او امیر محمد خان د غازي محمد عثمان خان د مور له پښت نه وروونه دي او د پلار له پښت نه د کاکا زامن دي.

غازي پیر محمد خان ساپی د کاپیسا او پروان په مجموع کې د ټول افغانستان مشر و ، نوموړي د تګاب د ننني کاپیسا او د پروان د سیمو د مالیاتو د ټولولو دنده درلوده.

غازي پیر محمد خان د غازي محمد عثمان خان سر د ملي غورځنګ په جوړولو کې ډېره مرسته کړې ده او د مجاهدینو یو اتل مشر تېر شوی دی.

کله چې غازي محمد عثمان خان پر بالاحصار د نورو افغاني مبارزینو سره یرغل وکړ، نو پیر محمد خان ساپی مخامخ پر بالاحصار ور وختو او تو ده جګړه پیل شوه چې نوموړی(پیرمحمد خان) د انګر یزانو په ډزو زخمي شو او ویې ویل چې خوک زما د ټپي کېدو نه مه خبروی ځکه، چې د مجاهدینو روحیه کمزورې نه شي. کله چې غازي محمد عثمان خان او غازي محمد شاه خان خپل ورور ولیده چې زخمي پروت دی نو دوی داسې وویل چې مور به اوس ټول انګریزان د بالا حصار څخه ورک کړو.

پیر محمد خان ساپي ته غازي امان الله خان بابا ویل ځکه چې د ده وربره «علیاجاه» د عبدالمجید خان لور د عبدالرحمن خان ځوی، حبیب الله خان میرمن وه چې د دوی ځوی معین السلطنه عنایت الله خان و.

کله چې حبیب الله خان په کله ګوش کې په شهادت ورسېده، نو سر دار نصر الله خان په ننګرهار کې د پاچاهي اعلان وکړ، په دې وخت کې غازي پیر محمد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساپي اما ن الله خان ته ځواب ولېږه چې ته هم په کابل کې د پاچاهي اعلان وکړه او زه دې پوره ملاتړ کوم. په همدې وخت کې نوموړی د تګاب د ډېرو خلکو سره د سروبي په لور روان شو او د کابل لاره یې د نصر الله خان پر مخ بنده کړه او امان الله خان پاچا شو.

کله چې حبیب الله خان کلکاني د امان الله خان پر ضد جګړه کوله پیر محمد خان امان الله خان ته یو لیک ولېږه او په هغې کې خپل ملاتړ د نوموړي څخه اعلان کړی و چې ته لږ مقاومت وکړه او زه در روان یم . مګر دا لیک حبیب الله خان کلکاني ته په لاس ورغي او امان الله خان له کابل څخه وتلی و او په پایله کې حبیب الله خان کلکاني پاچا شو.

کله چې له تګاب څخه سپین ږیري او مشران د میاګل صیب او د فرقه مشر محمد حسن خان په ګډون د حبیب الله خان کلکاني مبارکي ته لاړل په هغه جلسه کې پاچا له میاګل صیب څخه وغوښتل، چې د پیر محمد خان سپارښتنه به ورته نه کوي. په همدې ځای کې د پیر محمد خان ځوی فرقه مشر محمد حسن خان ناست و خو نوموړي(پاچا) دی د څېرې له مخې نه پېژنده خو له نوم سره یې ورته بلد تیا درلوده. فرقه مشر محمد حسن خان چې ځان په خطر کې ولیده له دې مجلس څخه بیرون شو او د تګاب په لور یې حرکت وکړ خو وروسته بیا بندي شو.کله چې د حبیب الله خان کلکاني پر ځای نا در شاه واک ته ورسېده بیا فرقه مشر محمد حسن خان له زندان څخه ازاد شو[۱۰]

[۱۰] ډګروال غلام حیدر خان د غازي محمد عثمان خان د کورنی غړی او د کابل د حربي ښونځي پخوانی استاد.





## غازي امیر محمد خان ساپی

امیر محمد خان ساپی د پیر محمد خان په څېر د تګاب د ننني کاپیسا ـ پروان او په مجموع کې د ټول هېواد مشر و. نوموړی هم د غازي محمد عثمان خان سره په ټولو جګړو کې ګډون کړی دی، چې د امیر عبدالرحمن خان د حکومت پر مهال فرقه مشر او د سردار عبدالقدوس سره یو ځای د هزاره جات جګړې ته تللی و.

هغه مهال پر هزاره ګانو ډېر ظلمونه کېدل، نو دوی هم جنګ ته ملا وتړله. کله چې امیر محمد خان ساپی دغه جګړې ته د حکومت له خوا لېږل شوی و د جګړې وروسته امیر محمد خان ساپي د دولت ټول هغه منصب داران ونیول، چې په ظلمونو کې یې لاس درلوده او ټوله ګناه یې د حکومت د هغه ځای په منصب دارانو واچوله. هغوی یې بندیان کړل ، د هزاره ګانو مالونه یې ورڅخه واخیستل بېرته یې هغوی ته وسپارل چې د نوموړي په دې عمل سره هزاره ګان ډېر خوشحاله شول[۱۱]

د هزاره ګانو سر بېره سپهسالار غلام حیدر خان لنډي د امیر محمد خان ساپی څخه مننه او ستاینه وکړه چې دوی هلته د نظامي اخلاقو څخه کار اخیستی و«۹: ۹۷۰».

[۱۱] ډګروال غلام حیدر خان د غازي محمد عثمان خان د کورنی غړی او د کابل د حربي ښونځي پخوانی استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غازي محمد شاه خان ساپی

محمد شاه خان ساپي له غازي محمد عثمان خان سره د بالاحصار په جګړه کې او همدا رنګه د آسمايي په غره کې له ده سره یو ځای د انګریزانو پر وړاندې جنګیدلی دی. کله چې غازي محمد عثمان خان په آسمايي غره کې شهید شو جنازه یې محمد شاه خان ساپی تګاب ته یوړه.

محمد شاه خان ساپي وروسته د حکومت له خوا د میر افغان لقب وګاټه. د هغه وخت د حکومت له خوا یو شمېر «دهن پر» ټوپک له انګریزانو څخه اخیستل شوي وه، چې د د ه په مرسته افغانستان ته راوړل شوي و او په دې ټوپکو باندې د نوموړي نوم هم لیکل شوی و، چې تر اوسه د ده د لمسیانو سره شته دی او دا ټوپک ډېر اوږده او درانده دي، چې اوسني یو شمېر خلک یې پورته کولای هم نه شي او دې ټوپکو د «بکرې» پواسطه فیر کاوه.

محمد شاه خان ساپی د حکومت له خوا بیا اقچې ته ولېږل شو، چې هلته ټول ازبک او ترکمن و. نوموړي له ځان سره یو شمېر تګابي یوړل، چې د ده اولاده ، لمسیان او یو شمېر نور تګابي اوس هم هلته اوسېږي چې ډېر ښه ژوند لري او د ډېرو ځمکو خاوندان دي. د نمونې په توګه به د رشید بای ځوی عبدالله خان یادونه وکړو چې په هغه سیمه کې د لویې شتمنی خاوند دی[١٢]

[١٢] ډګروال غلام حیدر خان د غازي محمد عثمان خان د کورنی غړی او د کابل د حربي ښوونځي پخواني استاد.





## محمد صدیق خان ساپی

محمد صدیق خان ساپی د غازي محمد عثمان خان د ورور(غلام محمد خان ساپي) زوی دی، چې نوموړی د امیر عبدالرحمن خان د حکومت په وخت کې د تګاب حاکم و. کله چې امیر عبدالرحمن خان د نورستان د نیولو حکم وکړ، نو محمد صدیق خان د پنجشیر له حاکم سره یو ځای پر نورستان برید وکړ. د نورستان د جنوبي جبهې مشری هم د نوموړي په غاړه وه. په دغه جګړه کې اولیاقل خان هم د ده سره ملګری و، محمد صدیق خان په دې جګړه «نورستان فتح کول» کې خپل غیرت او جرائت ښکاره کړ، د دیانت او خلوص برم یې د اسلام پالو لښکرو په لیکه کې لوړ وساتلو او د اسلام په خپرولو کې یې د نورستان خلک تر اوسه احسان مند ګرځولي دي، چې اکبر شورماچ دې جګړې ته داسې اشاره کړې: «کله چې اولیاقل خان باندول په کوتل کې و، نو یوشمېر د باندول کافر اولیاقل خان ته حاضر شول او هیله یې وکړه چې د خپل مربوط قوم سره د امیر اطاعت مني او په اسلام دین مشرف کېږي په دې شرط چې نظامي او ملکي قواوې دې باندول ته داخلې نه شي.

په دې وخت کې قومندان محمد صدیق خان د دوه سوه نظامي نفرو او دوه ضرب توپ (قاطري) د تګاب او نجراب له مجاهدینو سره یو ځای چې د (صدیق خان )تر قومندانۍ لاندې و، له نورو قواو سره یو ځای شول او د جمادي ثاني د میاشتې په ١٧ مه باندې ډېره واوره اورېده او لارې بندې شولې، چې د لښکر سر د یخنۍ ویره پیدا شوه ، خو قومندان محمد صدیق خان خپل مورال له لاسه ور نه کړ او د خپل لښکر او له توپخانې سره یو ځای د باندول کوتل سر ته وختل.

په دې ځای کې د باندول ٧ تنه کافر د محمد غلام فرغجاني په ښنه محمد صدیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ته راغلل او د طیبې کلمې په ویلو سره مسلمانان شول او د حکومت په اطاعت راضي شول. دغه کسانو د محمد صدیق خان څخه غوښتل چې لښکرې دې باندول ته داخلې نه شي، مګر نوموړي خپلې قواوې باندول ته داخلې کړې او د لښکر څخه ۵۰ تنه د هوا د یخنۍ له امله مړه شول، په باندول کې جنګ شروع شو او کافر ټول د غرونو خوا ته په شا شول او کلا کفار کې هغه کسان وچې تبتیدلی نه شول. کلا ته یې اور واچوه او د نظامي لښکر نه دوه کسه مړه دوه زخمیان او د ملکي لښکر نه ۷ کسه زخمیان شول .

د باندول، انیش او مموم چې د دوی شمېر څلور سوه کورنیو ته رسېده د لښکرو ولکې ته راغلل او فراري خلک په کراج کې ځای پر ځای شول. له دې سره جوخت اولیاقل خان د قومندان محمد صدیق خان پسې ورغی او زرګونه ملکي مجاهدین له محمد صدیق خان سره یو ځای شول . د نوموړي قومندان په مقابل کې ټول کافر مات شول او هغه کافر چې په نیلاب کې ټول شوي و هغو یې د نیلاب د اوسیدونکو سره یو ځای کولم خوا ته په شا کړل.

قومندان محمد صدیق خان چې په نیلاب کې کوم مالونه تر لاسه کړي و د هغوی د ساتنې له پاره یې اولیاقل خان د یو توپ او ۱۶۰ پیاده نظامي عسکرو او دوه سوه ملکي عسکرو سره یو ځای پرېښوده او خپله د یو توپ او څو نفرو سره د کافرو پسې کولم خوا ته لاړ چې د رجب په پنځمه د کافرو او د دوی تر منځ سخته جګړه ونښته او د اسلامي لښکر څخه ۱۲۰ تنه شهیدان شول او د جګړې په پای کې کافرو ماته وخوړه »«۷:؟ »





## عبدالغفور خان ساپی

عبدالغفور خان د محمد شاه خان ساپي ځوی، نوموړی یو لوی خان هغه مهال یې د شمالي په کوهدامن کې ډېرې ځمکې درلودې او د حبیب الله خان کلکاني نږدې ملګری و.

حبیب الله خان کلکاني د امان الله خان د حکومت د رانسکورېدو په هدف متې را ونغښتې او په پای کې د امان الله خان پر ځای پاچا شو. د نوموړي له خوا عبدالغفور خان ساپی د کورنیو چارو وزیر وټاکل شو، ځکه چې له ډېر پخوا نه دواړه سره ملګري و، خو د وخت په تېرېدو حبیب الله خان کلکانی پر عبدالغفور خان بد ګومانه شو ځکه د عبدالغفور خان تره (پیرمحمد خان ساپی) یو لیک امان الله خان ته هغه مهال استولی وه چې د کابل په شمال کې د دواړو تر منځ جګړه روانه وه چې په دې اړه مو مخکې اشاره وکړه.

لږ موده وروسته د عبدالغفور خان د تره زامنو د حبیب الله خان کلکاني د واکمنۍ پرضد حرکات تر سره کړل او مخ پر کابل یې برید وکړ. په همدې شپه د پاچا له خوا عبدالغفور خان ژوندی په ځاه کې واچول شو. کله چې نادر خان واک ته ورسېده بیا د نوموړي د کورنۍ د غړو له خوا دعبدالغفور خان مړی را وویستل شو چې ۱۷ ورځې پرې تېرې شوې وې[۱۳]

[۱۳]انجنیر نور احمد حیدر ساپی، د غازي محمد عثمان د کورنۍ غړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فرقه مشر محمد حسن ساپي جګړه له لقيانو سره

لقيان چې مسلمانان و او د روسانو له خوا پرې ظلم کېده او هغوی افغانستان ته پناه راوړې وه ، د جنرال نادر خان له خوا وځپل شول.  د نادرد خان په فرمان فرقه مشر محمد حسن خان، چې د تګاب خان و او د لقيانو په جګړه کې يې له نورو خانانو سره د شاه محمود په مشرۍ ګډون کړی و.

د دې جګړې په اړ د کابل د حربي ښوونځي پخواني استاد ډګروال غلام حيدر خان وايي : « لقيانو (اتم بيک او ابراهيم بيک) چې د يو لښکر سره د امو له سيند څخه را پورې وتی و، په مزار کې يې اړولي و ، نو د شاه محمود په مشرۍ او د صفدر خان هزاره په قومندانۍ يوه لېوا عسکر د لقيانو د ابستلو له پاره ولېږل، مګر لقيانو دا لېوا ټوله له مينځه يوړله. شاه محمود بيا خپلو نفرو ته وويل، چې لقيان په خپل لښکر کې نژدې دولس زره (۱۲۰۰۰) سواره جنګيالي لري، د دوی سره موږ اوس جګړه نشو کولای بايد کابل ته لاړ شو او له هغه ځايه نوره فرقه له ځانه سره راوړو.

په دې جرګه کې فرقه مشر محمد حسن خان را پاڅېده او ويې ويل: وزير صيب زه ستاسو د دې خبرې سره جوړ نه يم. زه يو پښتون او ساپی يم او هزاره صفدر خان زما ملګری دی، زه د لقيانو سره تر هغې جنګېږم، تر څو چې مې د ملګري انتقام نه وي اخيستې او يا مې خپل ځان نه وي وژلی. شاه محمو د بيا د خپلو قواو مشران راټول کړل او د هغه وخت له رسم سره يې توره د نفرو په منځ کې کېښوده او ويې ويل: هر څوک چې د لقيانو جنګ ته ځي توره دې له ميدان څخه اوچته کړي.

فرقه مشر محمد حسن خان د خپل ځای نه پاڅېده، له ده سره يواځې د تګاب درې





سوه کسان و، بيا يې د جګړې له پاره لښکر جوړ او د شاه محمود په اجازه يې عسکرو (قومي خلکو) ته وويل: که هرڅوک پخپله خوښه جنګ ته ځي د نورو له جملې دې را ووځي،چې لښکر يې په همدې ترتيب جوړ کړ.

لقيانو (اتم بيک او ابراهيم بيک)چې د مزار په بالاحصار کې اړولي و، دوی ورپسې حرکت وکړ، کله چې فرقه مشر صيب د هغوی سيمې ته نژدې شو، ولسي خلکو ورته وويل: د لقي کسان اوس په لاره را روان دي، چې د مزار له خلکو نه يې په زوره غوايان، اوښان ، غلې او دانې اخيستې دي او لقي ته يې وړي. فرقه مشر محمد حسن خان د خپلو کسانو سره کمين ونيوه او د هغوی په انتظار کې و، چې غله د محمد ناصرخان په مشرۍ د ټول کاروان سره ونېول شول. مالونه يې ترې واخيستل او بېرته يې د مزار خلکو ته وسپارل. په دې وخت کې لقي (اتم بيک او ابراهيم بيک) کريم قرغ ته تللی و، کله چې د خپلو کسانو د نېولو نه خبر شو ، په بېړه يې د دوی په لور حرکت وکړ.

مازيګر فرقه مشر محمد حسن خان ته خبر را ورسېده، چې د لقي پوځونه را نژدې شوي دي. ده خپلو کسانو ته امر وکړ چې سرک پرېږدئ او د لارې په دواړو خواو تپو(غونډيو) کې سنګرونه جوړ کړئ.

کله چې لقي د جګړې له پاره راځي، نو فرقه مشر محمد حسن خان د ځمکې له تل سره سنګر نېولی و، لقيانو فکر کاوه چې دوی(فرقه مشر محمد حسن خان) به هم په اسونو سپاره وي، نو مرمۍ يې ډېرې جګې لګيدلې. د فرقه مشرمحمد حسن کسانو د سپوږمۍ په رڼا کې هغوی ښه ليدل او په يوه مرمۍ يې دوه درې کسه د مينځه وړل. جګړه تر سهاره پورې روانه وه، فرقه مشر محمد حسن خان ويل: کله چې سهار شو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل شو کسانو او آسونو د وینو بد بوی زما په مغزو بد لګیده، په دې جګړه کې لقیان د لویې ماتې سره مخ شول.

کله چې نادر خان خبریږي، چې فرقه مشر محمد حسن خان یواځې د لقیانو جګړې ته تللی دی، نو وزیر شاه محمود ته ډېر په قهر شو او فرقه مشر محمد حسن خان پسې یې ولېږه، ځکه د دوی له جګړې نه یوه ورځ مخکې د شاه محمود یوه لښوا عسکر لقیانو له مینځه وړي و. شاه محمود چې له نوي پوځ سره له کابل نه ځي، په توپونو د لقیانو سنګرونه ولي. بلاخره محمد حسن خان خپله سپینه پکړی د ټوپک په میل وټومبله او باد ډېره اوچته کړه هغوی(شاه محمود) کسان پوه شول چې دا زموږ ملګري دي.

فرقه مشر محمد حسن خان له خپلو ملګرو سره یو ځای د لقیانو لښکرې تر هغې پسې واخیستې تر څو یې چې ببرته د آمو د سیند پورې غاړې تېل وهلې. کوم مالونه چې د لقیانو څخه په جګړه کې دوی نیولي و، شاه محمد غوښتل چې ځانته یې ولجه کړي، مګر محمد حسن خان دا مالونه د مزار خلکو ته وسپارل، چې د مزار خلک د نوموړي په دې کار ډېر خوشحاله شول او په هر ځای کې به یې د ده ستاینه کوله او ده پسې به یې سندرې ویلې. د یوې مسرۍ متن یې په پښتو کې داسې دی «شابس او رحمت دې وي د ساپي په هسې ځوان» او د تګاب د خلکو ستاینه به یې کوله.

کله چې شاه محمود او فرقه مشر د مزار د خلکو د مالونو په سر یو دبل مخالف شول، نو شاه محمود د ده پر ضد غلط راپورونه نادر خان ته ورکول چې نادر خان محمد حسن خان وغوښت، ده داسې ګومان کاوه چې مکافات به ورکړي، خو هغه ته شاه محمود ویلي و، چې ده په مزار کې علم برداري وکړه او د پاچاهي خیال لري، د ده





چاره مشکله ده.

نادر خان محمد حسن خان ته وویل چې ځینې د ټوپکو د ټولولو خیال لري، ډېر بد سلوک یې هم ور سره وکړ. البته تر دې خبرو مخکې کله چې محمد حسن خان د لقیانو د جګړې څخه بریالی راستون شو، نو نادر خان ورته کابل کې ځمکه او یوه رتبه د جنرالی د مکافاتو په ډول ورکړه. نادر خان ته د خبرو پر مهال محمد حسن خان هیڅ هم ونه ویل ځکه چې په همدې وخت کې نادر خان ځوکسه په خپله کوټه کې کې وژلي و. نوموړی له دغه مجلس څخه بیرون شو، وزیر(صد راعظم)محمد هاشم خان ته لاړ چې هلته د مزار والي هم ناست و، والي د روغېږ نه وروسته محمد حسن خان په غېږه کې ونیوه او ډېر انسانیت یې ور سره وکړ.

وزیر محمد هاشم ته د مزار والي ګل محمد خان د فرقه مشر محمد حسن خان په اړه داسې وویل: دا هغه ځوان دی چې د ده په توره د مزار خلک د لقیانو څخه خلاصون وموندہ.

بیا وزیر(صدراعظم) وویل: دا خو موږ ته واجب القتل را پېژندل شوی دی. چې وزیر له ځان سره نادر خان ته یوړ، نادر خان ورڅخه ډېره بښنه وغوښته، خو د فرقه مشر صیب د نادر خان دا سلوک خوښ نه شو. وروسته تګاب ته لاړ نور یې کابل ته د راتلو څخه ډډه وکړه. نادر خان چې به کله وغوښت،ده به د ناروغۍ بهانه کوله هغه له کابل نه ځینې ډاکټران رواولېږل، خو نوموړی هیڅ د ډاکټرانو سره ښه سلوک ونه کړ.

ګران لوستونکي کولای شي د لقیانو او نادر خان تر منځ چې کومې جګړې شوې دي ځینې کتابونو ته مراجعه وکړي او د دغې جګړې په اړه ډېر معلومات تر لاسه کړي او په خپله قضاوت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فرقه مشر محمد حسن خان او انور خان بندي کېدل

څرنګه چې محمد حسن خان له کابل سره خپلې اړیکې پرې کړې، خو د نادر خان له خوا څو ځلې کابل ته وغوښتل شو، مګر دې حاضر نه شو. بلاخره نادر خان یوه قوه د والي اسمعیل خان وردګ په مشرۍ د ده د نېولو له پاره تګاب ته ولېږله تر څو محمد حسن خان ونیسي او په زور زیاتي یې کابل ته یوسي.

والي اسمعیل خان وردګ د تګاب د ولسوالۍ تر څنګ د تګاب یو شمېر مشرانو سره یوه غونډه وکړه. والي د دغو مشرانو څخه د محمد حسن خان په نېولو کې مرسته وغوښتله او ځینې کسانو له والي سره ژمنه وکړه، چې موږ به یې په ډېره اسانۍ تاسو ته ونیسو.

کله چې محمد حسن خان له دې پلان څخه خبر شو په ډېر قهر سره یې، ولسوالۍ محاصره کړه او والي ته یې خبر ورکړ، که تر مازیګر پورې له تګاب څخه ونه وتلې زه به در سره سخته جګړه پیل کړم. بیا همغه و چې والي اسمعیل خان له تګاب څخه ووت. وروسته بیا د یو شمېر کسانو په ټینګار محمد حسن خان د میاګل صیب سره یو ځای نادر خان ته ورغی، هغه ښکاره د دوی عزت وکړ، مګر په پټه یې نظر بند کړ، تګاب ته یې د ورتګ اجاه ور نکړه او له ځان سره یې ستون کړ، کله چې نادر خان د ښونځي د یو شاګرد له خوا ووژل شو نو محمد حسن خان تګاب ته لاړ.

د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پرمهال محمد حسن خان خبر نه و، چې د نوموړي مشر زوی(محمد انور خان) د یو شمېر کسانو سره د لویو لارو په سرکونو باندې نظامي حرکات کوي.محمد حسن خان ته وزیر محمد هاشم خان وویل: ستا مشر زوی زموږ پر ضد عملیات کوي. محمد حسن خان خپل زوی (محمد انور خان) ته د دې موضوع





په اړه یو لیک واستوه په ځواب کې محمد انور لیکلي و: پلاره ما خپل نوم پخپل بیل لیکلی دی او هره ورځ خپل کار کوم مګر تا ته چا غلط خبر در کړی دی.محمد حسن خان د انور خان لیک وزیر(صد راعظم) ته یوړ هغه وویل: ستا ځوی چې هر څه غواړي زه یې ورته ورکوم، خوزه د هغه په اړه سم راپورونه لرم.

والي اسمعیل خان وردګ د وزیر(صدر اعظم) په امر تګاب ته لاړ او د ده یوه خور د محمد حسن په کورنۍ کې واده شوې وه. والي اسمعیل خان په چل او فریب سره د خوره یې په نوم کابل ته یوړ او هلته یې بندي کړ.

محمد انور خان چې کله حکومت نېوه، نو ده ته د تګاب حاکم میلمستیا کړې وه، ځکه له د ه (انور خان) سره هم درې سوه ملګري و، د میلمستیا په شپه د پروان د امنیې قومندان هم راغلی و . محمد انور خان چې کله سهار له خوبه پآڅېږي (۵۰) عسکر ورته له ټوپکو سره ولاړ دي او په دې چل یې ونېوه او ۱۸ منه غراب یې ورته په غاړه کې واچوه. نوموړی دومره پیاوړی ځوان و چې (۱۸) منه غراب سره موټر ته خپله ور وخوت او د کابل په زندان کی یې اوه (۷) کاله تېر کړل.

د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال محمد حسن خان داسې بندي شو، چې وزیر(صد راعظم )ورته خبر ولېږه، محمد حسن خان چې کله صدرات ته ځي، صد راعظم نشته دی او د دولت منصبدارانو یو پلان جوړ کړی و، چې صد راعظم صیب ولایت ته تللی او ته یې غوښتی یې، کله چې ولایت ته ځي هلته ورته وایي چې صدر اعظم صیب د زندان سیمې ته تللی دی. محمد حسن خان چې د زندان سیمې ته ځي نظامي درویشې یې په تن کې وه او یوه مضره تفانچه یې په غاړه وه. د محبس امنیتي قطعې ورته رسم تعظیم وکړ او وروسته د رسم تعظیم څخه یو وظیفه دار عسکر ورته وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه چې د صد راعظم صیب خونې ته دې یوسم. کله چې هغه (محمد حسن خان) کوټې ته ور ننوت عسکرو ورپسې در وازه کلکه کړه چې(٧) کاله د زندان ترخې شپې یې تېرې کړې، له ده سره د کابل په زندان کې د وخت مشهور زندانیان لکه ملک میرزمان خان د خپلې کورنۍ سره او ملک قیس د خوګیانیو مشر هم د ده سره بندیان و.

**قاضي محمد نوروز خان:** نوموړی د فرقه مشر محمد حسن خان مشر ورور، چې د غازي امان الله خان د استقلال په جګړه کې د اخند زاده ملاصیب او یو شمېر نورو تګابیانو سره یې د هېواد په ختیځه جبهه کې ګډون کړی دی.

نوموړي ټول عمر په قضا کې تېر کړی و او په دې اړه یې دوه مهم کتابونه لیکلي چې تر دې دمه چاپ شوي نه دي او د یو اثر نوم یې ( ګلچین نوروز) دی[١٤]

[١٤] ډګروال غلام حیدر خان (د محمد حسن خان زوی ) او د کابل د حربي ښونځي پخوانی استاد.





## د محمد حسن خان ساپی زامن

مخکې یادونه وشوه، چې د محمد حسن خان مشر زوی محمد انور خان د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال یوه ډله د نفرو درلوده،چې په لویو لارو کې یې نظامي حرکات کول. والي اسمعیل خان وردګ د صدراعظم محمد هاشم په امر ونېوه او د کابل (چهلستون) په زندان کې بندي شو.

د نوموړي بل زوی عبدالروف خان ساپی د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال د غور په کشک کې د امنیه قومندان په توګه دنده تر سره کوله. د یو راویت له مخې عبدالروف خان د داود خان د هغه فرمان په اساس چې د کابل او کندهار په لویه لاره د غلو ډله که هر چا ونېوله نو د مکافاتو خاوند به شي.

عبدالروف خان د خپلو (٧) کسانو سره د غلو د ډلې پسې شو، شپږ میاشتې یې د غلو سره په ملګرتیا تېرې کړې او یوه ورځ یې د غلو مشر په خپله لونګي لاس تړلی کابل ته راوړ. د سردار داود خان له خوا ورته دوه ترفیع ورکړل شوې او نقدي مکافات یې هم ورکړل او نوموړي له داود خان څخه وغوښتل چې پلار او ورور یې له زندان څخه ازاد شي.

په کومه ورځ چې سردار محمد داود خان له زندان څخه محمد حسن خان او انور خان ازاد کړل، په همدې ورځ عبد الروف خان هم تګاب ته روان شو، چې د لارې په اوږدو کې د ډېرې خوشحالۍ نه زړه ودربده. په همدې ورځ محمد حسن خان او انور خان هم تګاب ته روان دی چې د کاپیسا د صیادو په سیمه کې د یو تګابي جنازه یې ولېده، چې کله له دوی څخه مخکې شي او کله وروروسته، خو دوی پوه نه شول چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدلروف خان جنازه ده.

مازیګر مهال محمد حسن خان او محمد انور خان خپل کلي ته ورسېدل، چې یو څو شیېې وروسته د عبدالروف خان جنازه هم ورسېده. کله چې سردار محمد داود خان د عبدالروف خان له مرګ څخه خبر شو ډېر خفه شو او پنځوس زره افغانۍ د نوموړي کورنۍ ته ولېږلې. د عبدالروف خان د کورنۍ غړي بیا وایي چې نوموړي ته په قندهار کې د حکومتي کسانو له خوا زهر ورکړل شوي و.

**مولوي محمد اسمعیل خان:**

مولوي محمد اسمعیل د فرقه مشر محمد حسن خان درېیم زوی دی، چې په شیراغا باندې مشهور و. نوموړي په دیني برخه کې زده کړې په تګاب کې د قاضي صیب جانان په مدرسه کې تر سره کړې وې. نوموړی د نیکو اخلاقو څښتن و او د همدې له امله د خپل پلار فرقه مشر محمد حسن خان د باور له مخې د کورنۍ د مشرتوب دنده ورکړل شوې وه. ده هم د خپلې کورنۍ د نورو غړو په څېر په خپله سیمه کې د خپل ولس له پاره ځانګړې خدمتونه کړي دي. په ۱۳۶۴هـ ش کې په تګاب کې د سیاسي او نظامي ډلو تر منځ په پټه وژنې روانې وې، چې مولوي محمد اسمعیل هم په خپله سیمه کې د ځینو کسانو له خوا په شهادت ورسیده.

**وکیل اسدالله خان ساپی:** وکیل اسد الله خان د محمد حسن خان زوی، چې د ژوند ډېره دوره یې په وکالت او د خپلو خلکو په مشرۍ کې تېره شوې ده. نوموړی د تګاب د خلکو وکیل او د سردار محمد داود خان د کودتا نه وروسته شورا منحل شوه، دی په خپل کور کې اوسېده کله چې د شوروي سور پوځ پر وړاندې جهاد(سپېڅلې جګړه)





پیل شو، ده په کې پوره ونډه واخیسته بیا پېښور ته مهاجر شو. نوموړي د جهاد پر مهال د پیر صیب او د صبغت الله مجددي په تنظیمونو کې کار کاوه، کله چې جهاد بریالی شو بیا امریکا ته لاړ چې تر اوسه پورې ژوندی دی او په امریکا کې اوسېږي[۱۵].

**غلام حیدر خان ساپی:** غلام حیدر خان ساپي د ژوند ډېره برخه د خپل پلار(فرقه مشر محمد حسن ) په څېر په نظامي برخه کې تېره کړې ده. نوموړی په ۱۳۴۶ هـ ش کې د کابل د حربي ښوونځي څخه فارغ شو او ډېر کلونه یې په اردو کې په بیلابیلو برخو کې په رسمي توګه دنده تر سره کړه او ۱۷ کاله یې په حربي ښوونځي کې د استاد په توګه تېر کړل.

نوموړی د حامد کرزي د واک پر مهال(۱۳۸۳هـ ش) د ډګروالی په رتبه تقاعد شو، چې اوسمهال د کابل په چهاراهي قمبر په فامیلیو کې اوسېږي. د نوموړي زوی ( ډاکټر ایوب ساپی) اوسمهال یو لوی بستریز روغتون د غازي عثمان په نوم هم په یاده سیمه کې جوړ کړی دی.

ډګروال حیدر خان ساپی فرهنګي شخصیت هم دی د تګاب او اله سای په مجموع کې د کاپیسا د خلکو په غونډو او پروګرامونو کې د یو مشر په توګه برخه اخلي. نوموړی لیکني هم کوي او ډېرې تاریخي ژباړې هم لري چې تر اوسه د چاپ ډګر ته نه دي راوتلي.

(۱۵) ډګروال غلام حیدر خان (د محمد حسن خان زوی ) او د کابل د حربي ښوونځي پخوانی استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

١ ـ حبيبي، عبدالحي.( ١٣٨۵هـ ش). د افغانستان لنډ تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

٢ ـ  ځلمی، محمد ولی.(١٣۶٨هـ ش). زموږ غازیان. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمی.

٣ـ  رښتیا، سید قاسم.(١٣٧٧هـ ش). افغانستان در قرن نزده(١٩). کابل: میوند خپروندویه ټولنه.

۴ ـ ساپی، عبدالمالک.(١٣٧٩هـ ش). د ساپیانو د پېژندنې تاریخ. کابل: د افغانستان علومو اکاډمی.

۵ ـ ساپی، عبدالمالک.(١٣۵٨ هـ ش).صفا ورځپانه(لومړی ګڼه). کابل.

۶ ـ ساپی ، طاهر. (١٣٨۵هـ ش).رڼا مجله(لومړی ګڼه). ننګرهار.

٧ ـ شورماچ، اکبر.(؟) نورستان در ګسترده تاریخ. کابل:میوند خپروندویه ټولنه.

٨ ـ عطایي، محمد ابراهیم.(١٣٨٠هـ ش). د افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

٩ ـ غبار ، میر غلام محمد.(١٣۴۴ هـ ش). افغانستان در مسیر تاریخ. کابل:مرکز نشراتي انقلاب.

١٠ ـ قاضي، عطا والله.(٢٠٠۴م). د پښتنو تاریخ. پېښور:یونیورستي بک ایجنسي.

١١ ـ کاتب، فیض محمد.(١٣٣۴هـ ش). سراج التواریخ. کابل: دارالسلطنه.

١٢ ـ همکار، ملاګل.(١٩٩۴م). وحدت ورځپاڼه(دویمه ګڼه). پېښور.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**